بسم الله الرحمن الرحيم

# درمان


شاعر: قدرت اللّٰه درمان

خپرندوی: خوست ادبي بهير

د خپرونو لړ: ۱

د پښتی ډیزاین: وحید کوچی

کمپوز: خالد مقبل

چاپکال: ۱۳۹۴ل/ ۲۰۱۵ز

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپځی: اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸


## د موندنې ځایونه


خوست: غرغښت کتاب او قرطاسیه پلورنځی

خوست: لمر کتاب او قرطاسیه پلورنځی/ ۰۷۷۸۲۸۷۸۴۷

خوست: سباوون کتاب او قرطاسیه پلورنځی

ننګرهار: مازیګر کتاب پلورنځی

ننګرهار: عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی،مخابراتو څلور لاری

پکتیا: علمي کتاب پلورنځی

کابل: میوند واټ، پخته فروشی کوڅې ته مخامخ، احمدي پلازا، څلورم پوړ دانش کتابخانه - ۰۷۷۱۱ ۴۳۱۷/


Ketabton.com



شاعر کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ته درمان د خوږو زړونو!

د خدایج وېش عجیبه دی .انسانان یې ټول له غوښې او هډوکو جوړ کړي ،د ټولو ظاهري بڼه تقریباً یوه ده، زړونه یې هم د غوښې له یوې نرمې ټوټې رغېدلي؛ خو! هغه چې موږ یې په ساده ژبه د همدې زړه کړنې او غوښتنې ګڼو، سره بېلې دي. ډیرو زړونو غوښتي، چې د ډیرو او لوړو ودانیو په لرلو د خپل هوس تنده ماته کړي. ډېرو د مصنوعي ځان د لوړاوي لمن د همدې تندې د سړولو لپاره راټینګه کړې ده او...

خو، ډیرو کمو یې بیا په د فکر کړی، چې د زړونو نوې مانۍ ورغوي او زړې هغه لوېدو ته پرې نه ږدي. دا ارمان د یوه عاطفي انسان، شاعر او درمان انسان ارمان دی. له ښه بخته چې زمونږ(درمان) هم د همداسې یو ارمان لپاره لېښې غړلي او تورو، لفظونو او کلمو په مرسته غواړي چې په هر زړه کې د یوه ښکلي ارمان مانۍ ودانه کړي. دی تر ډېره په دې چاره کې بریالی هم دی، ځکه په سره پیپلو مرغلرو کې یې د ماشومتوب او ځوانۍ ډیرې





شـوخې او ځلیـدونکې نمـونې مونـدلی شـؤ، چـې همـدا د انسـاني ژونـد خوږې، شوخې او په ذهن کې تلپاتې مرحلې هم دي.

خوست ادبي بهیر ویاړي، چې د ډیر کم وخت په تېرېدو نه یوازې د ادب په ډګر کې د بېلا بېلو ناستو(مشاعرو،کره کتنو، مخکتنو،لېکچرونو...) کوربه وو، بلکې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هم پیل کړه او دا دی د خپل یو فعال او اخلاصمن غړي قدرت الله درمان ((درمان)) د شعر د مینوالو مخې ته ږدي. درمان د خوست سیمې په عمر تاند، خو په شعر پوخ ځوان دی، زموږ باور دی، چې د ((درمان)) په لوستو به مو تر ډېره تږي شعري ذوقونه خړوب شي.

درمان د همداسې د خوږو زړونو درمان اوسې!

په ټول هېواد او ښکلي خوست کې د ادب د لا غوړېدا په هیله!

درنښت او مینه

خوست ادبي بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په جوس تورې يوې گډې گل کرينه

د خوست په سمسور جوس يو وار بيا ښاغلي قدرت الله درمان دخپلې دويمې شعري ټولگې (درمان) گلان کرلي.ددرمان شاعري که له يو پلوه دچا خبره ښه په درز کې دپرمختگ پر لورروانه ده بل لوري ته ښه زيات مينه وال هم لري دا دواړه هغه قرينې دي چې درمان ته دنوي کهول داستازي شاعر مقام ورکوي.

په دې ټولگه کې هم درمان د تير په څېر په زړه پورې شاعري کړې چې له دوو ازادو او يو څو متفرقه شعرونو پرته ټوله منځپانه غزيليزو نغمو او ورموپه غبږه کې رانغښتې.له ډېرو تشريفاتي خبرو تيرېږم راځم اصلي موضوع ته.مشهور هندي مذهبي گورو آوشو نقاد ناکامه شاعر او خبريال ناکامه سياستوال بولي . ددوئ داخبره تر ډېره بريده شخصا پر ما سمه راځي ځکه چې په داسې حال کې ددرمان په شعرونو نظر ورکوم نيوکه ورباندې کوم چې ددوئ په څېر شاعري نشم کولای بس دا چې دوئ له ما سره د بې کچه مينې له مخې له ما څخه دليکلو غوښتنه وکړه غواړم څو لنډې او موجزې خبرې له درنو لوستونکيو سره شريکې کړم.

له مور سره زياته مينه ولسي محاورې په زړه پورې رديفونه سوليز طبيت سوچه انساني عاطفه دښکلا ستاينه مينه اود ټولنيزو ناخوالو منطقي





غندنه او داسې نور ټولنيزو او اخلاقي مسايلو ددرمان دشاعري دمحتوا پله درنه کړې.يادې خبرې که څه هم خورا مهمې دي دژوند او ټولنې سره سروکارلري يو ژوندی او دحساس فکر سری ورنه ارومرو اغېزمن کېږي. ولې دلته غواړم دادب په اړه يوې تشې ته اشاره وکړم . او هغه دا چې د ژوند دنورو چارو په څېر موږ په شاعري کې هم دې رد فعل يا دپېښو سره دعکس العمل له دريځه چلن کوو. ددرمان شاعري هم له دغې نيمگړتيا څخه استثناء نه ده.که څه هم شاعر دخپلې ټولنې يو جزء دی اوله ښې بدې څخه يې برخمن دی.او دا هم يوه حقيقت دی چې د سړي شخصيت ، طرز تفکر او چال چلند په وده او تشخص کې حاکم چاپېريال او شرايط ستره ونډه لري اودادبياتو او شاعرۍ لوړې ژورې هم ورسره تړلې خو شاعر چې دټولنې حساس ويښ او بينا انسان دی الله تعالی ځانگړی استعداد او فکري ځواک ورپه برخه کړی که دعلمي مطالعې او زده کړو لمن ونيسي له دې حالته راوتل ورته شوني دي . شاعر کولی شي دخپل نوښت اوژورې او پراخه مطالعې او هنري تجربو پرمټ ټولنې ته راتلونکی انځور کړي دژوند دنورو چارو دسمون او پرمختگ لپاره لار نقشه وښايې او په دې توگه د ټولنې جيلب دسم مسير په لوري ونيسي.

ترکومه چې ددرمان دشاعرۍ دهنري اړخ خبره ده نو ما په خپله پخوانۍ ليکنه کې هم داو ويلي وو چې روانه خوندوره او په تول پوره شاعري يې کړې دبېلگې په توگه دکتاب دسر غزل يادولی شو هغوئ وايي.

خلک گوره په اسـمان کې ابادېږي
پښتانه دي چې په ځمکه کې ډوبېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا غزل چې بې ردیفه دی تر پایه ښه ښه بیتونه لری او زما په اند ددوئ دکتاب براعه الاستهلال یې ګڼلی شو. دمطلع لومړی بیت دصنعت ارصاد نمونه ګڼلی شو. یعنې دلومړی بیت په لوستلو سړی ددویم بیت دمحتوا تشخیص کولی شي. دصنعت تعریض نښې هم پکې شته دساري په توګه وایی. خلک ګوره تر اخره ټول خلک هم په اسمان کې نه ابادیږي مراد ورنه ځینې دي همدارنګه په دویم بیت کې هم پښتانه عمومي خبره ده خو مراد ورنه دپښتنو ډېرکې برخه ده نه ټول ځکه نړۍ کې تر پښتنو ورسته پاتې هم شته او نه خو ټول پښتانه په زمکه ډوبېږي.همدارنګه په اسمان کې ابادېدل او په زمکه کې ډوبېدل دپرمختګ اوپه شاتګ لپاره د پورنۍ (استعارې ) په توګه کارول شوي.

زه د چـــــــا له غمه دومره ډېر ژړېږم
په ګرېوان مې په شرط شولې زرغونېږي

دغم نه ژړا بلکل زړه اوتکراري خبره ده دویم بیت یې ښکلې محاوره او په ګرېوانه دشلو زرغونېدل په زړه پورې نوې ورتنې (تشبیه) ده. داشعر یې دنوښت یوه بله بېلګه:

یو سړي کاروبار غوښتو دویم ووې
نن سبا خـــو تابوتونه ښه خرڅېږي

که کاروان صیب وایی:

غوځ یې کړ تابوت یې کړ ستانوم به مې لیکلو پرې
ستا په نامـــــه خاورو ته چیــــــنار راسره ځـــي





نو درمان هم له چا کم نه دی همغه تابوت دی له همدغو ناخوالو سرټکونه ده ولې په نوي انداز .پر روان وضعیت یې نیوکه یو غوره کنایه ده.

دحمزه بابا رنګ هم لري هغه وایی:

بـــل خوا دي کاته چي مې دروکاته
رورږدی په دي غلا یم څه به نه وایې

درمان وایي:

ته چــــــــې وایې نوره مه راته راګوره
ښه نو څه وکړم چې نه مې درنه کېږي

دیوې ښې ورتنې سربېره دمبالغې صنعت هم لاندې شعر کې د پام وړدی

انـــګي دې دسرو اوبو ګړې دي
چې ورګورمه نو تنده مې زیاتېږي

په صنعت محاوره کې ښه ماهر دی لنډنوم په ښه توګه کاروي لکه دا بیت

که دخوږ زړګي درمان غواړې نو غوږشه
محـــــبت ورته له هر څه نه ضرور دی

یو بل شعر کې وایي:

یوه سترګه چېرته ځان رابـــــاندې وینه
ته چې ورک یې الهامونه رانه ورک دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې شعر کې (يوه سترګه) دخوستي ګړدود يوه خوږه اصطلاح ده. د الهامونو ورکېدل داشنا له فراق سره تړل دحسن تعليل ښه بېلګه بولو.

دا هم:

زه حـــيران يم چې بدل مې له چا واخلم
چې يې مړ کړمه هغه سړی مې ورور دی

دا شعر دمراعات نظير او تعريض صنعت هم لري او دشاعر دفکري عمق او سوليز طبيعت ځرګندويه هم دی.

درمان شاعرانه حجونه هم کوي:

درمـــــانه ځم دنفرتونو شيطانان پرې ولم
دزړه په جيب کې په دې تمه ګرځومه تېږې

ياد بيت کې د حسن استدلال سربيره دتلميح صنعت هم په ښه توګه کارول شوی.

دا يې هم صنعت مدح بالذم

په ورځ دقيامت به خدای ته څه وايې ځواب
خونونه دې اشنا په هـــــــربانه اوښتي دي

درمان په شاعرۍ کې خواږه او ترخه دواړه په خوندوره او زړه راښکونکي انداز بيان کړي د ادبي صنعت او هنر هنداره يې دتصنع ګرد و غبارنلري او ډېر په طبيعي توګه يې کارولي. ښه رديفونه ولسي محاورې او کليوال تصويرونه يې هم دستايلو دی. ارواښاد ډاکتر اعظم په وينا:





هرانداز يې دلفريب دی خو زړګيه
دا ساده ساده کتل يې دکتو دي

ماته ددرمان فکري پوخوالی او اعتدال سپېڅلې جذبه او انساني عاطفه تر څه نه زيات دکتو وړ ښکاري.

دليکنې په پای کې دنظر ماتي په توګه ځينو نيوکو ته صرف اشاره کول غواړم. ځکه چې درمان تر ما زيات دشعراو شاعرۍ په رمزونو پوهه دی.دويم دا چې يواځې ستاينه يوصرف دانسان د (انا ) يا زه يم تغذيه کوي دتعمير په موخه نيوکه دژوند دهرې برخې اړتيا ده .

لکه په دې بيت کې دبحرونو ستونزه چې پروفي غلطي هم کېداشي:

پرېږده رقيبان خوله باران راوتي خوړونه دي
تـــه لکه په سره اوړي ديخ ګري سرې اوبه

که داسې وويل شي:

پرېږده رقيبان خو له بارانه وتي خوړونه دي

داهم دروانې دستونزې بله بېلګه:

ما ګوره په نښتي جنګ کې هم دژوند نارې کړم
دا مــــــه وايه چې ښکلې مفکوره درسره نشته

که لومړی بيت داسې وويل شی:

ما ګوره نښتي جنګ کې هم دژوند نارې کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هم یوه بله ستونزه:

لاندې شعر هم دابهام ښکاردی:

خدایﷻ به وي داچې دې زموږ پر لوري ښه ماته وي
خــــدایﷻ به وې دا چې دغمونو سلسله ماته وي

دقافیې ځینې ورې ستونزې:

د محبت په خـــاوره پټ یې کړم ظاهر یې کړمه
ورک شوی زړی وم زرغون یې کړمه ډېر یې کړمه

د ظاهر او ډېر غریږ ګراف توپیر لري دواړه هم قافیه کول تیروتنه ده همدې ته ورته ستونزې دهمدې غزل په نورو بیتونو کې هم موندل کېږي.لکه خاطر، چاپېر، شاعر، هېر . یوه بل ځای کې توکل ،اجل ،متل ، اوربل، عکس العمل په غزل کې بیا ټولوم او مبهم په یوه قافیه کې راوړل شوي...

هیله لرم چې دا څو نیوکې ددرمان دناهیلۍ لامل ونه ګرځي او په اصطلاح زما دغو ترخو ته دحقیقي ترخو په سترګه ونه کتل شي.

ټول کتاب مې ټکي پر ټکي ولوست دهرې غزلیزې ونې ښاخونه مې څنې وهل او ځولۍ ځولۍ خوندونه مې ترې واخیستل ددوئ شاعري دپرمختګ پرلوري چټک ګامونه اخلي.ښاغلی درمان او دشعر مینه والو ته ددغې ټولګې مبارکي وایم . دخوست جوس دې تل په ادبي ګلانو سمسوره او ښېرازه وي.

دسوکاله او ودان افغانستان په هیله

عبدالله صادق

کابل - ملي مارکېټ

۸/۷/۱۳۹۴





# په غزل کې د خوشال غوندې جرأت

شعر د ښکلو خبرو په ځېر ښکېدل غواړي. ماشوم چې لوی شي خبرې یې هاله ښکې شي، خوځینې ماشومان بیا داسې وي چې په ماشومتوب کې په خپلو ښکلو خبرو خلک حیرانوي. ځینې شاعران هم کټ مټ همداسې وي؛ په ډېر کم عمر کې پاخه شعرونه وایي. خو اکثره شاعران د عامو ماشومانو په ځېر وي چې هرڅومره سترېږي؛ پوهه، تجربه، مشاهده، تخیل، تفکر او زیرکتیا یې زیاتېږي شعر یې هم قوي کېږي.

د درمان صیب شعر هم ورو ورو ښکېږي. تخیل او تفکر یې ورو ورو د شعر مغزو ته ورننوځي. د لومړۍ ټولګې په پرتله یې د دویمې شعرونه خواږه، روان او څرګند پیغام لري. خو د لوستلو په وخت کې یې زما پام یوې بلې خوا ته واړوه؛ خوستیو اصطلاحاتو او ځینو جملو ته.

درمان صیب وایي:

خدای(ج) بـه وي دا چې دې زمونږ پـر لـوري ښـه ماته وي
خـــدای(ج) به وي دا چې د غمونو سلسله مــــــاته وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې زلمی ونومول شي ترهغې د جينۍ کور ته د رواج او دستور له مخې نـه شي ورتلـی چـې ترڅـو يـې/پښـه مـاتی/ نـه وي شـوی. زلمـی د يـو شمېرنږېږدې خپلوانو سره مل د جينۍ د خپلوانو په مشوره په يوه ټاکلي ورځ د جينۍ کره د مېلمستيا لپاره ځي، د جينۍ کره هم ځينې خپلوان راغلي وي. زلمی(زوم) په هجره کې ناست وي د کلي شوخ ځوانان ټوکې ټکالې پرې کوي خو يو وار به کور ته هم ننوځي. هلته نو بيا خدای(ج) دې ساته، د پېغلو له خوا سل نخرې وي، يا د کټ پړي نه وي خو ريجايي ورباندې وي چې زوم په ناخبرې کې ورباندې کښېني پښې يې پرسر واوړي، يا به غوړ جام په يو لاس پورته کوي او .... خو کله چې زومگيري (پښې ماتی) وشي نو د زلمي پښه د جينۍ کور ته ورماته شي. پښه څوک د واده په ورځ، ځينې د لاسنيوي په ورځ او ځينې نور يې په کومه بل ورځ کوي.

رښتيا که وي رقيـب دې د آنې سړی هم نـه دی

جانانه خو چې تاته دومره گران دی په ما گران دی

(آنا/ آنه): هندي نرينه نوم دی. د پخوانۍ سکې د شپاړسمې برخې باور يې لره. خو د سکې د ارزښت په کمېدو سره آنه ډېره بې ارزښته په دې شوه چې هسې هم د سکې شپاړسمه برخه وه. څوک يا کوم شی چې ارزښت يې ډېر کم او يا د نشت برابر وي نو خلک ورته وايي چې د آنې هم نه دی؛ يعنې د آنې هومره ارزښت هم نه لري.

زمونږ تقدير هم څه د تورو سپو ښځلی لاس دی

مونږ د اختر په ورځ کې هم وو هديرې تـه روان





/تورسپی/ توره پېشو/ دواړه په ديني لحاظ بد گڼل شوي. ملايان وايي چې په کـوم کـور کې تور سپی ملايکې نه ورځي. توره پېشو هسې لکه چې د تورسپي په تور کې لاړه ده. په کور کې يې خلک نه پرېږدي، بده يې گڼې. وايي چې کوم يو چې په کور کې وي کور سپېره او نيستمن کېږي، که څه شی يې وځټلو هغه هم سپېره کېږي نو همدې باور دا اصطلاح زېږولې چې لاس يې تورسپي/پېشو ځټلی. يعنې سړی سپېره او نيستمن دی او يوه يې نه دوې کېږي.

مينه غواړم، کبر نه کړم چـې په چا بانـدې يـې گـوري

که تيې دی که گرېز دی که منگل دی ، ورته ناست يم

/په چا کتل/ او /کبر نه کول/ د مرکو او جرگو خبرې دي. په خوست کې د سترو قومونو خپل خپل نرخونه (د جرگو، مرکو اصـول او قاعدې) مالومې دي. څوک چې دعوه له مخامخ لوري سره په نرخ خلاصوي نو وايي چې لار ورسره کـوم خـو که په نرخ يې نه خلاصوي او له شريعتـه هم جگ شي نو کبرجن بلل کېږي او دا هم ويل کېږي چې غره ته وخوت. خوڅوک چې کبر نه کوي وايي چې په نرخ يا په شريعت يې ورسره گورم، ورته ناست يم.

منمه چې په زړه کې بلا ډېر ښکلي ساتمـه

خو ته پکې د سوي لاس په څېر يې محترمه

/سوی لاس/ د سوي لاس ساتل ځانگړی پام او توجه غواړي. اصطلاحاً د نازک او مهم شي ساتلو په وخت کې هم ويل کېږي چې د سوي لاس په څېر يې ساتل پکار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درمان صیب په شاعرۍ کې مې داسې بیتونه هم ولیدل چې په لوستلو مې بې اختیاره له خولې واه واه ووتل؛ هېڅ په هېڅه د پاچا د مخالفت په منطقي ډول غندنه، د خولګیو په بیان کې د خوشال خان غوندې جرأت، په آیینو د تڼاکو راختل، په غنو کې د زړوکو خښېدل/بندېدل، د تېرو غړول، د مور په دعا په سیند کې د ولاړې بېړۍ روانېدل، په خامه پلمه د پخو تڼاکو چاودېدل، په هرحال کې د جانان ستاینه او د جانان په رضا راضي کېدل او ځان (مین) له جنازې (له مړي) سره او د یار خندا له سندرو سره تشبه کول هغه څه دي چې د درمان شعر ته یې د ډېر خوند او رنګ ترخنګ درماني بڼه وربښلې:

ځـان تـه ګوتـه ونیسـه چـې تـا وطـن تـه څـه کـړي
هــســې ګــني ځلــه د پاچــا مخالفــت کــوې

بیـان مې د خولګیـو ښـه جـوت دی پـه غـزل کې
ما کړی د خوشال هسې جرات دی په غزل کې

ملامـت نـه یـم چـې پـه زړه مـې راختـې تڼـاکې
د نظـــر تــــاو د کړلـــې ډېـــرې ائینـــې تڼاکـــې

بانـه د مـه زمبـه نګـاره زړه مـې چـوي لـه درده
ګــوره څــه خامــه بهانــه غــواړې پخــې تڼاکــــې





ستا په بنو کې مې زړه پاتې شو ما څه کړي وای
لکــه وریښـمین زړوکـی خـپله خښیده پـر غنـو

منـې کنـه اخېـر دې هـم لـه خـولې نـه (واه) ووتـل
زه خــو شــاعر یـــم پـــه خـبرو راولــمــه تیـــره

د سیند پـه منځ کـې مـې ولاړه کشتـۍ وچلېـده
لـه دې نـه ښکاري چې مورکۍ راتـه دعا کړې ده

ما سره که جوړ دی او که وران دی په ما ګران دی
څه کوې ! جانان خو نو جانان دی په ما ګران دی

تـه چـې زمـا تـر مخ رقیـب سره تېرېـږې خانــدې
ګوره پـه سر د جنـازې ، سـندرې نـه وایـې څـوک

درمان صیب ته د لاهنري بیانونو د هنر او جرأت په هیله.

ساده حیدرخېل

جدي ۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

نه پوهېږم په خپلو شعرونو څه ولیکم ؟ زما شاعري دومره پېچلې نه ده چې شننې او تحلیل ته دې اړتیا ولري ، نه مې هم په شعر کې د ځینو خلکو غوندې لغات پراني کړې ده ،چې خلک دې پرې په اسانه پوه نه شي ، ما لکه د ارواښاد مصري خان خاطر په څېر ساده او کلیوالو خبرو ته په ساده او کلیوالي ټکو د سندرو جامې وراغوستي دي ، هو! یوه خبره چې باید یاده شي هغه زما په شاعرۍ کې د ځینو سیمه یزو اصطلاحاتو کارول دي، چې هغه اصطلاحات هم ښاغلي ساده حیدرخېل صاحب په خپله لیکنه کې په ډېره ښه توګه واضح کړي دي ، چې د زړه له کومې مننه ترې کوم، زه مې د خپلې ټولګې ښه او بد تاسو ته پرېږدم . هیله لرم چې خپل نېک او رغنده نظریات رانه ونه سپموئ. په پای کې د خپلو خبرو په پلمه د اوسني دور نوښت گر شاعر ښاغلي ممتاز اورکزي دا بیت راوړم او بس...

په خپل شعر مې تبصره دا وه مــمتازه
چې بس لږ څه ورنېږدې یمه ښه نه یم

په مینه
قدرت اللّٰه درمان
٦ عقرب ١٣٩۴





# غزل

خلــک گــوره پــه اســمان کــې ابــادیږي
ښــتانه دي چــې پــه ځمکــه کــې ډوبیــږي

یــو ســړي کاروبــار غوښــتو، دویــم ووې
نــن ســبا خــو تابوتونــه ښــه خرڅیــږي

زه حیــران یــم خدایــه چرتــه پنــاه یوســم
ستا پـه کـور کـې چـې هـم خلـک وژل کیـږي

د رقیــب کیســو تــه مــه گــوره ملگریــه
غــړ نــو کلــه پــه نظــر پســې رســیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېخ د وئي د چاپلوسو انسانانو
لکه تاندې لښتې هر لور ته کږېږي

اننګي دې د سړو اوبو ګړي دي
چې ور ګورمه نو تنده مې زیاتیږي

یوې ماشومې خدای ج ته داسې سوال کولو
باران ونکړې زمونږ خېمه څڅېږي

زه چې ستا د دیدن خبر له خدایه غواړم
رقیبان دې لکه سپي راته غپیږي

صدقه شم د زیړه پښتون له خویه
ښه غمي له سختو تیږو تراشل کیږي

خدایه خپلې مریضی ته خپه نه یم
خپه دېته یمه مور راته ځوریږي

یا به زه وم یا رقیب ، نو دواړه نه شي
ښکلیه اور او اوبه نه سره چلیږي





زه د چا له غمه دومره ډېر ژړېږم
په ګرېوان مې په شرط شولې زرغونیږي

ته چې وایې نوره مه راته راګوره
ښه نو څه وکړم چې نه مې درنه کیږي

زه شاعر یم د کاروان بابا خبره
دروغ نه وایمه ښکلي مې خوښیږي

په مړی د مسافرو ذکر وشو
خدای ج منې که په مړی مې شخوند تیریږي

چې په تورو خاورو موړ نه شي درمانه
وړی نفس په بل رنګه نه مړیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه بیتونه

هرې خواته ویر دی او ماتم دی کلی داسې دی
دلته په قدم قدم کې غم دی کلی داسې دی

هو منم سپرلی دی خو زه تمه د گل نه لرم
ایښی چا په پوله بم دی کلی داسې دی

---

## درې بیتونه

چې دا د قیامتونو علامې نه دي نو څه دي
انسان چې په انسان پسې چړې اخیستې دي

ولس مې د یو بل غم شریکۍ ته وزگار نه دی
هر چا د خپلو مړو جنازې اخیستې دي

ته گوره پښتنو ته د نفاق له برکته
ته گوره لکه سپک خلي ویالې اخیستې دي





## ((وړي))

گرمي ده ډېره
زړه مې پرې سوځي
زيړه غنم دي
تنکي لاسونه
سپيني خولې يې
په مخ راماتې
زه يې له ورايه
په تماشه يم
غربت يې ډېر دی
چپل يې پرې دي
د غنم دروزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې پښه کې لاړه
يو اخ يې وکړ
اسمان يې وکوت
يو څه خو غواړي
خو څه به غواړي
درد په هغې دی
خو ما محسوس کړ
زما په زړه کې
ليکه شوه تېره
تر اخ يې جار شم
زه ترې قربان شم
يو څوک خو ورشئ
پلار ته يې وايئ
«له ما د څټه غنم واخلي
په شين خالی د وړي نه راټولوينه»





## غزل

چې د عشق او يارانې خبرې نه دي
ورکوه يې د فايدې خبرې نه دي

لږ خو کېنه لا وختي دی بيا به لاړ شې
لا مو کړي سره دوې خبرې نه دي

شعر د مينې او الفت ډکې خبرې
شعر يوائې د جګړې خبرې نه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وږو، وږو خبرو د قربان شم
درنېږدې د سريندې خبرې نه دي

په سهار مو رنګ الوتی وو همدومره
نور مې ياد د هغې شپې خبرې نه دي

د نفرت په باب غږېږې څه ورکېږه
ستا خبرې د انې خبرې نه دي

پوره کال وشو غزل ليکلی نشم
پورهکال کړي هغې خبرې نه دي

هغه خلک اوس دعوه د نرينتوب کړي
هغه خلک چې د يوې خبرې نه دي

زه خو سپينې، سپينې وايمه درمانه
خلک دې وايي چې خوږې خبرې نه دي





# غزل

د غـــــزل او د ټپـــــې انـــــډيوالي ده
کـــــه زمـــــا او د هغـــــې انـــــډيوالي ده

پـه لمبــه ، لمبـه رخسـار د خولـو څـاڅکي
د بـــــاران او د ډېـــــوې انـــــډيوالي ده

پاګـــل نـــه وم زه پـــه هـــر څـــه پوهېدمـــه
مـــږه خبـــر دی مـــا بـــه وې انـــډيوالي ده

چې له سترګو نه يې تېر شې نو يې هېر شې
دا د دغـــــې زمـــــانې انـــــډيوالي ده

يـوه ښـکلې او يـو ښـکلی سره ناسـت دي
د بـــــادام او د پيســـــتې انـــــډيوالي ده

دا چـې رنـګ مـې تـور اوښـتی دی درمانـه
دا مـــې کـــړي د لمبـــې انـــډيوالي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د زړه ورغلي پرهرونه به مې خولې نه کوي
سترګې دې پوهې کړه چې ست د يارانې نه کوي

چې نه راځي،صفا دې وايي، زړه مې نه بديږي
خو په دروغو د له ما سره وعدې نه کوي

زه که کوم عيب لرم نو مخامخ د وايي راته
خو پسې شا د څوک په ماپسې کيسې نه کوي





هغه سړی چې جنازه پسې مې نه اودرېدو
هغه سړی مې دې دعا د فاتحې نه کوي

د شفقت او عاطفې اخيري حد وګورئ
تبه زما وي خو خوبونه مې ادې نه کوي

نه راته مينه راکوي نه مې نفرت ته پرېږدي
ياري مني خو يار له ماسره کيسې نه کوي

زه يې د تېر عمر په حسن باندې وغږېږدم
ويل يې درمانه ګل خو ټول عمر وږمې نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

تـــا برنـــد کـــړي دي باڼـــه ،خـــبرې نشـــته
وچـــه شـــوي مـــې ده خولـــه ،خـــبرې نشـــته

د پښـــتون پـــه ســـيمه مـــرگ داســـې دېـــره دی
تـــه وا هـــېڅ د ژوندانـــه ،خـــبرې نشـــته

«چـــې تـــه نـــه وې زر خـــبرې مـــې پـــه زړه وې
چـــې تـــه راغلـــې اوس پنځـــه ،خـــبرې نشـــته»

دا غزل چې د هر چا وو خوښ مې نه شو
دې غزل کې مې د زړه ،خبرې نشته

څه ژوره خاموشي ده وارخطا یم
مخامخ یو زه او ته ،خبرې نشته

که رقیب مو له منځ ووتو درمانه
زما او ستا تر منځه څه ،خبرې نشته





## غزل

چـــې الـــوتی مـــې لـــه ژونـــده رنـــگ او نـــور دی
د بېلتـــــون مـــــرض وهلـــــی دی رنځـــــور دی

دې خـــبرو خـــو مـــونږ شـــل ځایـــه تقســـیم کـــړو
دا مې دوست دی ،هـا دوښـمن دی دا تربـور دی

زه چـــې تاتـــه درنېـــږدې شـــمه نشـــه شـــم
څڅېـــدلی دې پـــه ختـــه کـــې انگـــور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه حیـران یـم چـې بـدل مـې لـه چـا واخلـم
چـې یـې مـړ کړمـه هغـه سـړی مـې ورور دی

پـــه نـــړۍ د نفرتخپلـــو پاچـــاهي ده
محبـــت پکـــې پـــه مثـــل د مـــزدور دی

دا د مـــخ ربحـــان د چېـــرې مـــړاوی مــه شــه
د زړه بـام مـې پـه همـدې بانـدې سمسـور دی

کـه د خـوږ زړگـي درمـان غـواړې نـو غـوږ شـه
محبـــت ورتـــه لـــه هـــر څـــه نـــه ضرور دی





## غزل

لـه تـا بـه هېـر وم خـو لـه مـا نـه هېرېـدې ملګریـه
پـه هـره لار پـه هـر قـدم مـې يادېـدې ملګریـه

خـود بـه پـه ټـول کـلي ورمـې راخورېـدې ملګریه
هغـه چـې داسـې خلاصـې څنـې ګرځېـدې ملګریه

اوس تنهايي په ملا مات کړی يمه زړه مې مات دی
پخـوا ډاډه وم ځکـه تـه مـې درلـودې ملګریـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما واړه عمر په غزل کې شاعري کړې ده
له مانه مه غواړه نظمونه قصيدې ملگريه

لکه دا ستا هسې تسل مې د زړه نه پرې کيږي
په تصويرونو دې ما ډکې کړې بټوې ملگريه

زه دې په بيا ووايه ، بيا ووايه ستړی کړمه
خو ستا له خولې نه راونه وتې ټپې ملگريه

درمانه زه مينه سکه د دين حصه گڼمه
زه خو ولاړ يمه په دغې عقيدې ملگريه





# غزل

خوله مې درجار خو په يو شرط که دې روژه ماته وي
که جنتونو ته دې ياره دروازه ماته وي

خدای ج به وي دا چې دې زمونږ پر لوري پښه ماته وي
خدای ج به وي دا چې د غمونو سلسله ماته وي

په مړه تصوير دومره تسل د زړگي کله کيږي
خو بيا هم ښه دی څه نا څه پرې اندېښنه ماته وي

بې رنجو سترگې او بې خاله زنه داسې ښکاري
څنگ چې غزل کې رديف مات وي قافيه ماته وي

ستا په يادونو کې تر دې حده مشغول وم اشنا
زه چې خبرېږمه سحر وي ټوله شپه ماته وي

خاونده ته خو مې درمان اشنا ته خبر پېښوې
بېگاه مې خوب ليده چې لاس کې مې آئينه ماته وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ((مینه))

هو گرانه منم درسره
چې مې وعده کړې وه
چې نور الفت نه پالم
او یارانه نه کوم
خو زه بښنه غواړم
زه دروغجونی شومه
خو دا په دې چې گرانه
زه مینه دین ، مینه ایمان گڼمه
په دې نفرت نفرت ماحول کې چې هم
لا یارانه کوم الفت پالمه
ځکه !
چې زه په مینه ژوند تېروم
ځکه !
چې شر سره مې نه لگېږي
ځکه !
چې کرکه مې په زړه کې نشته
ځکه !
نفرت مې په فطرت کې کې نشته
ځکه !
په مینه کلک ایمان لرمه





## غزل

خدایه سپوږمۍ ده که هغه ده پر بلۍ ولاړه
څه زړه راښکونکي نظاره ده پر بلۍ ولاړه

نرۍ شمال یې د گردي کمیس لمن ښوروي
لکه د مني میاشت کږه ده پر بلۍ ولاړه

بیا یې د چا سره وعده د ملاقات ایښي ده
هغه چې داسې ټوله شپه ده پر بلۍ ولاړه

ما وې چې څنگه خوشبویي په واړه چم خوره ده
د سرو گلونو گلدره ده پر بلۍ ولاړه

د ځوندیداري لوپټې پیځکه یې تاو له رخسار
په گوتو جوړه آئینه ده پر بلۍ ولاړه

درمانه زه به یا قربان ورسره خود وایمه
د غرنۍ ژبې ټپه ده پر بلۍ ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

یو دې په شنو سترګو کې لیکه د رنجو نه وینم
نور دې په درست وجود کې یاره چېرته خو نه وینم

له دې نه پورته به څه حد د ښېغورۍ وي اشنا
په ګردې کال کې دې تصویر د اننګو نه وینم

چې د رقیب پر واړندې ماته په خندا شي راشي
زه په بې ننګه یار کې دغومره پښتو نه وینم





دا خو منم چې د نړۍ ادبیات مخکې لاړ دي
خو پکې ساری د خوږو ، خوږو ټپو نه وینم

که دې د خدای ج لپاره مینه کړه نو راشه اشنا
کنه وي توان زه د نتکۍ او د بنګړو نه وینم

زه تر هغې ددې محفل رنګینې نه منمه
جانانه ستا نرګسې سترګې چې تر څو نه وینم

د کلي لوی واړه شکمن دي درمان ګله اشنا
نور دلته مه راځه چې مخه د لانجو نه وینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه بيتونه

ته چې وايې ته راته دعا کړه نوره څه وکړم
خدای ج خو دې د ټول وطن پاچا کړه نوره څه وکړم

اوس نو پرې پاسته قدم راوآخله وېره مه کوه
لار مې په بڼو درته صفا کړه نوره څه وکړم
..................................................

## دوه بيتونه

ګڼ دي پکې دومره ډېر خواږه شعر دې ليکلی دی
آخ اللّٰه سړيه څومره ښه شعر دې ليکلی دی

دومره ډېر صفت يې د ځان واوريده نو ويې وې
واه درمانه واه زما په زړه شعر دې ليکلی دی





## څلور بيتونه

د زړګي د درد ټکوره راته ګوره
د هجران له اور مې ژغوره راته ګوره

ستا غزل له مانه سل واري بهتر دي
يا غالبه يا ټاګوره راته ګوره

اې زما پر سوځېدو دې زړه بد نه شي
راته ګوره، راته ګوره، راته ګوره

توري سترګې دې دي بار په الهامونو
څو غزل راباندې پلوره راته ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

اوس مې نه پرېږدي ملا اوس ماته نصيحت کوې
وخت به وي چې ته به د ساقيانو امامت کوې

ووايه تر کومې به بدي د محبت کوې
څو به ناست مورچل کې يې تر کومې به نفرت کوې

گرانه ده که دا ښکلي دې چېرته په لار راوستل
هسې پرې خواري کوي او هسې پرې محنت کوې

څو به مې جانانه ارمانونه په لمبو سوځې
څو به غېږ ته نه راځې تر څو به بغاوت کوې

ځان ته گوته ونيسه چې تا وطن ته څه کړي
هسې گني څله د پاچا مخالفت کوې

دا د بېلتون غم که دې په غر کېښود اوبه به شي
افرين درمانه چې تر اوسه مقاومت کوې





## غزل

گډ کړی چې مې رنگ د محبت دی په غزل کې
ما کړی د رنگونو امامت دی په غزل کې

پيدا مې ځکه دومره ډېر خوږلت دی په غزل کې
چې گام په گام مې کړی ستا صفت دی په غزل کې

ورکړی مې الفت ته اوليت دی په غزل کې
ما کړی د نفرت څخه نفرت دی په غزل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیـان مـې د خولګیـو ښـه جـوت دی پـه غـزل کـې
ما کړی د خوشال هسې جرات دی په غزل کې

راوستی دغـو دریـو لـوی قیامـت دی په غزل کې
سرګم دی که سرود که موسیقیت دی په غزل کې

مـا کـړی لـه جنګونـو بغـاوت دی پـه غـزل کـې
ساتلی مې تل خیـال د انسانیت دی په غزل کې

درمانـه اوس مـې فکـر سـلامت دی پـه غـزل کـې
درمانـه اوس مـې کـړی ریاضـت دی پـه غـزل کـې





# غزل

د یـوه ښـکلي تصـویرونه رانـه ورک دي
د ژونـــد واړه امیدونـــه رانـــه ورک دي

یـوه سـترګه چېرتـه ځـان رابانـدې وینـه
تـه چـې ورک یـې الهامونه رانه ورک دي

مـونږ پراتـه یـو لکـه خـاورې بـې غـروره
ښـکلي نـه یـو چـې ځانونه رانه ورک دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژونـد کومـه خـو چـې تـه راسره نـه یـې
تـش کـالبوت یـم اندامونـه رانـه ورک دي

بلبـل غړیـه خـوش مزاجـه گـل اندامـه
سـتا سـتایلو تـه لفظونـه رانـه ورک دي

لکــه گونــگ درتــه ولاړ یمــه درگــورم
د خـــبرو ســـیلابونه رانـــه ورک دي

درمـان گلـه نـن یـې بیـا راتـه خنـدلي
دا چـې ځمکـه اسـمانونه رانـه ورک دي





## غزل

شپه که څه د کال هومره اوږده وه خوب مې وه نه کړ
ستا د نـه راتللـو اندېښـنه وه خـوب مـې وه نـه کـړ

اخ څه جنتي غوندې صحنه وه خوب مې وه نه کړ
څوک مې د زړگي په سر ویده وه خوب مې وه نه کړ

سـتا د بنگـړو جـڼ مـې غلـی غلـی اوریـده پکـې
ښکلي سندریزه غوندې شپه وه خوب مې وه نه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ساعت یې هم د خوشالو تر بریده نه پرېښوم
تاو رانه د هجر دایره وه خوب مې وه نه کړ

بیا به یې د کوم کمبخت ادکه بوره کړي وي
چم کې د چورلکو بدرگه وه خوب مې وه نه کړ

ټوله شپه مې گله په اسمان کې ستوري وشمېرل
بله راته ستا د یاد ډېوه وه خوب مې وه نه کړ

مینه نه وه، یار نه وو ،درمانه خوند یې چېرته وو
ژوند مې د ازغیو بستره وه خوب مې وه نه کړ





# غزل

لکه خزان یې د سپرلي تنکۍ غوټۍ وخوړې
دې رواجونو بلا ډېرې جینکۍ وخوړې

زما پېزوان او نتکۍ خاورې شه رادرومه اشنا
زیاتي پردېس کې د پردیو مزدورۍ وخوړې

ته دې د خپلې پستې غېږې خوب راولوره
بیا ملامت یم که مې بیا د خوب گولۍ وخوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښــتني پېغلــې پــه کورونــو اندېښــنو زړې کــړې
پښــتنو ژنیــو پــه ســفر خپلــې ځــوانۍ وخــوړې

تاتــه د ټیــک د اخیســتو وعــده کــې پــاتې راغلــم
څـه ړلـۍ تـوی کړلـې او څـه شـولې مرغـۍ وخـوړې

خدایږ خبر ته به پکې خپل تصویر لیدی شې کنه
مــا خــو د زړه وینــې اشــنا پــه شــاعرۍ وخــوړې

درمانه خدایږ خبر چې مونږ ته څه ښېرا شوي ده
مرگــي ناترســه دلتــه ډېــرې زنــدگۍ وخــــوړې





# غزل

ملامــت نــه یــم چــې پــه زړه مــې راختــې تڼــاکې
د نظـــر تـــاو دې کړلـــې ډېـــرې ائینـــې تڼـــاکې

باڼــه د مــه زمبــه نگــاره زړه مــې چــوي لــه درده
گـــوره څـــه خامـــه بهانـــه غـــواړې پخـــې تڼـــاکې

کلــه نــا کلــه مــې د تــورې گــزار نــه غوځــوي
کلـه نـا کلـه خـو مـې تشـې کـړې کیسـې تڼـاکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ته غرېږې مونږه ښو بدو ته نه ګورو خو
یاره له واره کړو په واه واه باندې خولې تناکې

پرېږده چې نن دې د غرور په غونډۍ وخېږمه
پرېږده چې ښې دې په دیدن پسې کړم پښې تناکې

ته څه خبر یې چې پردۍ مزدورۍ څه ته وایي
د پاچا زویه ته به خود نه پېژنې تناکې

غربت به څو پورې درمانه ستا لمن نه پرېږدي
ته به ترکومې په ورغوي ګرځوي تناکې





# غزل

د هجر شپه وه زه او زړه مې وو پراته پر غنو
ته راته وایه ښه نو څنګه وی ویده پر غنو

په اننګیو دې د زلفو څوکې مه خوروه
په ګلابونو چا جوړ کړي دي ویړه پر غنو

ستا په بڼو کې مې زړه پاتې شو ما څه کړي وای؟
لکه وریښمین زړوکی خپله خښیده پر غنو

په دا ازغنه لار چې تا پورې درتلم لالیه
ځان ته خفه نه وم خو زړه مې خوریده پر غنو

زه د هغې نرګسې سترګې څنګه مچې کړمه
ته راته وایه سرې څنګه کېږدي خوله پر غنو

توکل په خدای ج نن مې دې بیا بڼو ته ډېر وکتل
توکل په خدای ج درمانه وامې چاوه زړه پر غنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په رگ رگ کې مې ودان شولې سړيه
لکه ځان رابانـدې گران شولې سړيه

تش کتې مې گنې نور مطلب مې نه وو
خو ته هسې بدگمان شولې سړيه

د مذهب کیسه د هر چا بېله ، بېله
خو دا ښه شوه چې انسان شولې سړيه

دا دې کومه بې رخې راسره وکړه
چې زه راغلم ته روان شولې سړيه

له خوږو کتو نه دې مننه
په دې پوی شه چې جانان شولې سړيه

اوس په تا پورې ده کوم چې دې لوريږي
هم مې درد هم مې درمان شولې سړيه





# غزل

ته چې وايې ښځه مینه جرم دی غذاب لري
وښیه چې داسې مسله دې کوم کتاب لري

ما چې يې د سترگو صفت کړو هغې په ناز ووې
زه دې ځار له سترگو شمه څه ښه انتخاب لري

هسې نه د زړه دنیا مې بله باندې واړوي
مه پټوه سترگې دې تاثیر د انقلاب لري

تاته دې د خپلې خولگۍ هسې اهمیت نشته
سمه د خرما په څېر ده خوند لري ثواب لري

هغه د حیا په څادر پټه پښتنه پېغله
نه ! لیدی يې نه شې په مخ وه جوړې نقاب لري

ته خو د درمان د ژوند کتاب په دقت ولوله
هره یوه پاڼه يې ځانگړی د عشق باب لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

دا چـې داسـې يـارانې تـه زړه نـا زړه دی
دا سـړی د ژونـد لـه خونـده خـبر نـه دی

ايســـار کـــړی زړه بښــونکي بېلتانـــه دی
دا مــين دې نـوره تنـگ لـه ژوندانـه دی

دې سـړي تـه پـلار گـټلي ده گـرم نـه دی
دا چـې داسـې تـر تنکـي بريـزر اوده دی

خوشـــبويانې د جنـــت محسوســـومه
سر مـې ايښـی د مـورکۍ پـه زنگانـه دی

درمـان گلـه پېغورونـو تـه جـوړ نـه شـو
بـس دی دومـه زياتي لمر پـه راخاته دی





# غزل

دا خو ځکه دومره ډېر تاثير لري زړه وړونکي دي
سترګې يې دوې غبرګې شهزادګۍ باښه ساتونکي دي

خدايه راته خبر پېښوې هر څه پېښيدونکي دي
تاو مې له زړګي نه د يادونو ځان وژونکي دي

څنګه خولګۍ درکړم اشنا څومره ډېر ليدونکي دي
نن سبا خو ياره ديوالونه حال ويونکي دي

زه خو د رقيب له انتخابه خبر نه يم خو !
ماته يې په ټول وجود کې سترګې زړه راښکونکي دي

نن سبا دې ياره د ښايست موسم ښه ګرم دی
نن سبا دې ياره په زرګونو پيرودونکي دي

اوس چې دې درمانه د زړګي وينې ورګډې دي
اوس دې په هر ځای کې د غزلو خوښونکي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

راشـې رانـه يوسـې بـې خـوبي رابانـدې گرانـه يـې
تـه لکـه کلاسـيکه موسـيقي رابانـدې گرانـه يـې

راشـه تـه د خپـل حسـن تـاثير لـه مانـه وپوښـته
اخ لکـه د شـنو بنگـو مسـتي رابانـدې گرانـه يـې

تاتــه بــه د ســتا د غنمرنگــي ښــکلا څــه وايــم
ســمه لکــه پانــه د بــبري رابانــدې گرانــه يــې





بد مې راځي څوک چې ستا په حسن انتقاد لري
تـه مـې لکـه خپلـه شـاعري رابانـدې گرانـه يـې

اوس دې هېرول راتـه ناشـوني دي قربـان دې شـم
اوس خـو مـې حصـه يې د ژوندانه رابانـدې گرانه يې

تاتـه بـه دا سـتا د گرانښـت څـومره انـدازه ښـيم
نه ! حساب يې نه کيږي بيخي رابانـدې گرانه يې

اوس چـې دې درمـان تـش تصـور د بېلتانـه وکـړم
رامـې شي پـه ذهـن بېخـودي رابانـدې گرانـه يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په نفرتونو د زړگی کړلو صنمه تیره
له دي نه وروسته به په زړه پوري ترمه تیره

اوبه به یم خو حوصله مې د فولادو جوړه
ته به مې گورې چې زه څنگه نرمومه تیره

زه لارویان د محبتپه گلابونو ولم
د نفرتونو لارویو ته ساتمه تیره

ښکلي کم نه دي خو چې ته مې اتخاب کړې پکې
ښکلیه په غره کې وي یوه نیمه اهمه تیره





منمه ستا لاس ته راوړنه به اسانه نه وي
چې غمی غواړمه نو خود به ماتومه تیره

ته به تر څو پورې اشنا ځان بې خبره ساتې
زه به ترکومې په دیوال درغورځومه تیره

منې کنه اخېر دې هم له خولې نه (واه) ووتل
زه خو شاعر یم په خبرو راولمه تیره

ریباره څه وایې هغې زما غزل اورېده؟
یاره په خوله د برکت شه اړومه تیره

درمانه ځم د نفرتونو شیطانان پرې ولم
د زړه په جیب کې په دې طمعه گرځومه تیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

څـه کـار پیـدا کومـه څـه روزګـار پیـدا کومـه
د ژونـد د ښـه کیـدو لپـاره یـار پیـدا کومـه

زړګیـه د زړګـي ناسـور زخمونـه پـرې ګنډمـه
چـې ګـرځم ورتـه سـتا د زلفـو تـار پیـدا کومـه

بـازار کـې مـې هېچاتـه د شـهرت ضرورت نشـته
یـاقوت یـم ځـان تـه خپلـه خریـدار پیـدا کومـه

تصـویر دې پـه بټـوه کـې راسره ځکـه سـاتمه
زړګـي تـه پـرې څـه ډاډ او څـه کـرار پیـدا کومـه

پـه هـره یـوه ښـکلا پسـې چـې سترګې ګرځومـه
لـــه دې لارې اشـــنا پروردګـــار پیـــدا کومـــه

د ژونـد سـختو حـالاتو تـه زړه نـه بـایلم درمانـه
پـه مثـل د اوبـو یـم ځـان تـه لار پیـدا کومـه





## غزل

کلونــه چــې د ســتا پــه بېلتانــه اوښــتي دي
جانانــه تــورې وینــې مــې پــه زړه اوښــتي دي

په ورځ د قیامت به خدای ج ته څه وایي ځواب
خونونــه دې اشــنا پــه هــر بانــه اوښــتي دي

برنــد بانــه ولاړ یــې رقیبــان دي ټیټــې ســترګې
ښـــکاره ده پـــر مغلـــو پښـــتانه اوښـــتي دي

زمـا پـه بېرتـه تـګ بانـدې چـې تـه نـه وې خفـه
تــک سره دې لــه ژړا ولــې لیمــه اوښــتي دي؟

خامخا که ورک شو نه سپینچکه ځای مې ته یې
زړګـي تـه مـې د سـتا د نظـر غلـه اوښـتي دي

اوس دې نــو درمانــه مینــه نشــم پرېښــودلی
اوس نــو لــه ورخونــو نــه اوبــه اوښــتي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د محبت په خاوره پټ يې کړم ظاهر يې کړمه
ورک شوی زړی وم زرغون يې کړمه ډېر يې کړمه

دا ته چې وايې له ياری نه په لاس څه درغلل
په سترګو ړوند شي شېخه نه وينې شاعر يې کړمه

خبر شوم نن هغې زما تصوير ته اور واچوه
راته ښکاره شوه په تمامه مانا هېر يې کړمه

يرېږم نه د انسانيت ځنځير ترلی يمه
دا چې رقيب ته هم څه نه وايمه خاطر يې کړمه

زمونږ په چم کې د بادونو موسم بيا راسر شو
دسمال دې راکړه چې له غاړې نه چاپېر يې کړمه

زه وم ولاړ رقيب مې يار ته ورتر غاړې وتو
که مړ يې نه کړم د مرګي په غاړه تېر يې کړمه





## غزل

چې ستا دغه ښايست وي او زما نظربازي شي
لوګي دې بيا تر منځ د جهان واړه سپيلني شي

له هرې خوا چکچکې شي له هرې خوا غورځي شي
ورګډ چې په اتڼ کې د ريحان* غوندې ژړکي شي

زما د نظر تاو به هم منې چې درته ګورم
راماته دې نری نری خواله په اننګې شي

* کبير ريحان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نګاره ګلاب مخیه سنځل بویه چېرته ورک یې
زر راشه هسې نه وي چې بې خونده پسرلي شي

ته وګوره چې دا به د عشق کومه مرتبه وي
جانانه په سترګک کې چې د اختر مبارکي شي

نو زه ګورئ هغه ولس په مړو حسابومه
چې مینه په پیسو شي او شاعر یې درباري شي

درمانه چې هر بیت یې د زړګي په وینو لیکې
نو خود به د هر ځای کې د غزل ثنا خواني شي





# غزل

مغلو سترګو دې که لږ هم دلسوزي ونه کړه
زړه مې پښتون وو زړه مې هم ورته زاري ونه کړه

بې ننګه یار راسره دغومره ځواني ونه کړه
تش په سترګک یې هم د عید مبارکي ونه کړه

د وخت جابر که راته پښې او لاس په زور وتړل
ویاړم پدې پښتون ضمیر مې غلامي ونه کړه

د سفر ورځې به زه خاورې په خوند تېرې کړمه
په مسکو شونډو دې اشنا خدایﺞ پاماني ونه کړه

منم تندی دې په سجدو باندې داغ ،داغ کړلو خو
بدبخت یې ډېر، د چا په زړه دې پاچاهي ونه کړه

زما له پښو ملګرو تل تیرې ویستلي دي خو
ما د ملګرو سره کله غداري ونه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې په پاڼجنو شونډو تا وکړه مُسکا لالیه
ایله بیله په ما کې وچلېده سا لالیه

کړم په پنځه وخته لمانځه کې دا دعا لالیه
خدای ج خو دې تا کړي ددې ټول وطن پاچا لالیه

حالات که هر څومره ستم کوي پر ما لالیه
خو ستا په سترګو کې دې رانه شي ژړا لالیه

په اننګو دې ښښتن بېله لورینه کړي
نه ! ګلابونه دومره نه لري ښکلا لالیه

یاره چې بیا دې سنځل بویه څنې وسپړلې
تغیر به خود کوي د چم آب و هوا لالیه

ویل یې درمانه زه دې څنګ په څنګ ولاړه یمه
پام غمازانو ته دې وار نشي خطا لالیه





## غزل

ذهن زما د خمارونو پر پالنګ پروت دی
په اننګیو کې د لیې لیې بنګ پروت دی

خدای ج خبر نور به زه له چانه متاثر وم کنه؟
خو په غزل کې مې دا ستا د شونډو رنګ پروت دی

دا ستا د حسن جنګیالیو پکې شپې کړي دي
د زړه محل مې لکه وران دارلامان ړنګ پروت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه لـوړې مـري خـو لاس د خبـر لپـاره نـه غځـوي
پـه دې سـړي کـې لا پښـتو پرتـه ده ننـګ پـروت دی

پـه دې وطـن کـې بـه د سـولې لمـر پـه ګرانـه وینـې
په دې وطن کې داسې ګڼ سیوری د جنګ پروت دی

جانانـــه نـــه! د موســـیقار د وس خـــبره نـــه ده
اخ پـه خـبرو کـې دې څـه ښـکلی آهنـګ پـروت دی

تا څـه ویـل خـو پوی پرې نـه  شومه چې څـه دې ووې
درمانـه زړه کـې مـې تـر اوسـه پـورې زنـګ پـورت دی





## غزل

دا څـــوک سر ماښـــام پـــاس پـــر بلـــۍ ولاړه ده
ســـپوږمۍ یـــې ســـلامۍ تـــه تیارســـۍ ولاړه ده

شیخ ولې ترې نه تښتي دا که نه وای دی به نه وای
دا مینـــه ده پـــه سر چـــې یـــې نـــړۍ ولاړه ده

یـو چـا د ښـار لـه چوکـه یـو تصـویر دی را ایسـتلی
خاونـــد یـــې بـــم وژلـــی دی ګـــډۍ ولاړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا یې راته کړله خدایزده چا پسې امین کړه
پرون نه تر دې دمه مې سلګۍ ولاړه ده

دعا راپسې وکړه موري بخت مې کوته شوی
په منځ د دریابه کې مې کشتۍ ولاړه ده

راځه چې مینه وکړو دې حالاتو ته خو ګورې
نرۍ د نړېدلي پاڼ پر ژۍ ولاړه ده

چې نه ژاړم دا نه ده چې خفه درپسې نه یم
درمانه له ژړا نه مې مرۍ ولاړه ده





## غزل

ژوندی یم په همدې زما ګزران تړلی دی
په مټ کې مې تصویر د خپل جانان تړلی دی

دیدن راکړه که ښکلي غزلونه رانه غواړې
ددغې للمې فصل په باران تړلی دی

ما ویل چې دا مې ذهن داسې ولې پیریانی شو
دا تا چې په اوربل پورې ریحان تړلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهـــل مرتبـــه تـــر دغـــې بریـــده رســـیدلې
انســـان حلالولـــو تـــه انســـان تړلـــی دی

د وخـــت پـــر کړلیچنـــه لاره تـــا پـــورې درځمـــه
روان یمـــه پـــه ځـــان پســـې مـــې ځـــان تړلـــی دی

پـــه مـــا د نفرتونـــو منترونـــه بـــې مانـــا دي
د مینـــې پـــه ځـــرمن کـــې مـــې وجـــدان تړلـــی دی

لـه خپلـه کـوره تښـتي او سـتا کـلي تـه در درومـي
پـــه څـــه عجیبـــه کـــوډو د درمـــان تړلـــی دی





# غزل

تـه بـې مینـې ژونـد کـوې او زه پـه چـا مـین یمـه
تـا څخـه ملګریـه پـه همـدې ټکـي ځـواکمن یمـه

ستا پـه څېـر خـو نـه یـم چـې مغـرور یـم کـبرجن یمـه
شکـر خـدای[ج] پـټ کـړی زه د مینـې پـه ځـرمن یمـه

مـا چـې دي د ګـل سره تشـبه وکـړه غلـط شـومه
تـه لـه ګـل نـه ښـکلی یـې نګـاره دروغجـن یمـه

ته یې، چې بې مینې یې بې مالګې یې بې خونده یې
زه پـه دغـه برخـه کـې غنـي یـم ښـه شـتمن یمـه

شـــاید مهربانـــه شـــې او مینـــې تـــه دې زړه وشي
لا خـــو دا امیـــد لرمـــه لا خـــو درتـــه ژمـــن یمـــه

دغـه شـاعري ده درمـان ګلـه چـې پاچـا یـم پـرې
نور کني څه سره او سپین خو نه لرم نېستمن یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

که د پخوا په ځېر مستي زما په زړه کې نشته
ستا هم د حسن نظارې د مخ په وره کې نشته

د ستا په نه شتون کې د مرګ تر بريده ورسيدم
تا خو به وې اشنا چې زور په بېلتانه کې نشته

چې مې په زړه وي هم هغه کيسه په خوله کومه
لکه د مار په ځېر مې دوې ژبې په خوله کې نشته

چې مې له زړه ستا د يادونو ګرمي وتښتوي
دومره مجال نو د دې جدي په ساړه کې نشته

شاعر سړی يمه په مينه زندګي تېروم
د نفرت عکس مې د زړه په ديواله کې نشته

درمانه يار به د ژوندون فصل په څه اوبوي
د مينې څاڅکی يې د فکر په وياله کې نشته





# غزل

ستا په نه شتون کې مې په زړه بالا سختي تېره کړه
د نړېدلي پاڼ پر ژۍ مې زندګي تېره کړه

نه ته مېئن شوې نه د قدر د مينو وکړو
په عبسياتو دې اشنا خپله ځواني تېره کړه

د نيم کښو تمبو له څار دې مينه زياته نه کړه
په ما دې ټول عمر همدغسې نېستي تېره کړه

ما دې يو ګل هم په مَړو سترګو ديدن ونه کړ
شکر خاوند چې ستا د حسن پاچاهي تېره کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا چې په ټوکو کې د نه راتلو خبره وکړه
په ما دې سمه دمه تبه د مرگي تېره کړه

زه خو د ټول عمر دیدن ته وږی پاتې شومه
ماته یې څه که تا په حسن کې خاني تېره کړه

زه مې په هر غزل کې مینه دومره ځکه ستایم
چېرته د مینې کلیمه که مې لالي تېره کړه

ما دې کړې ورځ د راتگ څوکیداري وکړله
دا درته چا وې چې کړې ورځ مې خالي تېره کړه

د زړه درمانه په دې ټکي گیله من یمه چې
د ستا په شتون کې مې هم دومره بیماري تېره کړه





## غزل

هره خبره چې په هر محفل کې تا کړي ده
ما یې غوښتنه درنه بیا کړي ده ، بیا کړي ده

ما چې ستاینه په هر گام ستا د ښکلا کړي ده
قدرت په تا کې د رنگونو انتها کړي ده

سترگې مې سرې دي خو قسم دی شرابي نه یمه
ستا د تصویر سره مې ناسته تر سبا کړي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما واړه عمر د الفت توره تېره ساتلې
ما واړه عمر د نفرت په ضد غزا کړې ده

د سيند په منځ کې مې ولاړه کشتۍ وچلېده
له دې نه ښکاري چې مورکۍ راته دعا کړې ده

ظالمه ماته خو قاتل د انسانيت مه وايه
((ما د دښمن مړي ته هم بالا ژړا کړې ده))

هغه چې هر ځل پکې خپل صفت ته ځير شي وايي
«درمانه واه ، واه په غزل کې دې بلا کړې ده»





## غزل

کوومه په لمبو کې زندګي ، زړه مې خوږېږي
چې څو وي دا وژونکي جدايي ، زړه مې خوږېږي

هندو، که مسلمان وي خو چې مري ، زړه مې خوږېږي
انسان سره لرمه خواخوږي ، زړه مې خوږېږي

دا ستا د ښو لاندې مې زړګی اوسيدل غواړي
پښتون کړي د مغلو غلامي ، زړه مې خوږېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا زړه بـه جـوړ د کـاڼي وي انسـان تـه ټوپـک نیسـې
خـــو زه وژلـــی نشـــمه میـــږي ، زړه مـــې خـــوږیږي

اشـنا لا مـې غاښـونو کـې زور شـته لوېـدلی نـه یـم
خـو زړه مـې نـه شي ستا پـه انـنګي ، زړه مـې خـوږیږي

تـــه هلـــه ، هلـــه زر کـــوه بنګرېـــو تـــه جـــڼ ورکـــړه
راواوروه کلاســـیکه موســـیقي ، زړه مـــې خـــوږیږي

چـې دې د زړه درمـان رابانـدې کـومې کـوډې کـړې
چې ځي زړه مې خوږیږي چې راځي ، زړه مې خوږیږي





## غزل

چـــې ورتـــه ګـــورم لـــه حیـــا نـــه یـــې باڼـــه غـــورځیږي
ددې منظـــر پـــه نظـــاره کـــې رانـــه زړه غـــورځیږي

بېلتـون ځـپلي خلـک داسـې خـوري تینـدک پـه لاره
لکـــه پـــه ســـمه دمـــه لاره چـــې ړانـــده غـــورځیږي

څـه وایـي ! زه بـه اوس رقیـب تـه هـم زارۍ کومـه
دا بـــه نـــو پښـــو تـــه د مغلـــو پښـــتانه غـــورځیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس کـه هـر څـو دی د غـرور پـه دنگـه ځوکـه ولاړ
خـدای(ج) مهربـان دی یـوه ورځ خـو بـه راوه غـورځیږي

اوس مـې نـو هغـه ښایســت نشـته هجـر وځـپلم
اوس مې له ځنو نه ګېډۍ ، ګېډۍ ویښته غورځیږي

دلتـــه لا هـــم د پخـــواني رواج پالنـــه کیـــږي
دلتـه اوس هـم پـه مسـافر پسـې اوبـه غـورځیږي

غـم دې ګلابـه پـه درمـان عجیبـې چـارې وکـړې
لکـه یـو زوړ دیـوال پـه څـاڅکي بارانـه غـورځیږي





# غزل

ما سره که جوړ دی او که وران دی په ما ګران دی
څه کوې ! جانان خو نو جانان دی په ما ګران دی

منم لـه رنګـه تـور لکـه ریحـان دی پـه مـا ګـران دی
اباد چې پرې زما د زړه ګلدان دی په ما ګران دی

ځـار د ناڅـاپي دیـدن د کیـف بـه یـې څـه ووایـم
اخ الله ! پـه سره اوړي بـاران دی پـه مـا ګـران دی

زه چېرې هم مذهب ته د چا نه ګورم چې څوک دی
خو بس چې په سهي مانا انسان دی په ما ګران دی

رښـتیا کـه وي رقیـب دې د انـې سړی هـم نـه دی
جانانه خو چې تاته دومره ګران دی په ما ګران دی

چـې تـا راپېـرزو کـړی دی پـه سر سترګو منظـور دی
ملګریه دا چې درد دی که درمان دی په ما ګران دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

په نیمه شپه کې یم ستا بندې دروازې ته روان
له خپله لاسه یم اشنا د مرګي خولې ته روان

په خدایځ باور لرم دعا مې د مورکۍ راسره
څوک وایي زه یمه تش لاس مقابلې ته روان؟

دغه د نن سبا شیخي هم ، سړی څه ووایي
شپه په خلوت کې وي سهار وي میخانې ته روان





چې دې یو ځلې بېنوا له دره وشړلم
زه به په کومو سترګو بیا وم ستا کوڅې ته روان

له خپله لاسه چې کتاب سوځم مکتب ورانوم
زه له رڼا نه په لوی لاس یمه تیارې ته روان

زمونږ تقدیر هم څه د تورو سپو څټلی لاس دی
مونږ د اختر په ورځ کې هم وو هدیرې ته روان

درمانه بیا یې د دیدن وعده راکړې راته
درمانه بیا یم د غزلو سرچینې ته روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بې له تا شاړې شوې حجرې سندرې نه وايي څوک
اوس د پخوا په څېر ټپې سندرې نه وايي څوک

چېرته چې ښکليه ياراني د سر په بيه کېږي
هلته به خود د ياراني سندرې نه وايي څوک

د هرې پيغلې چمبه زده وي هم سندرې وايي
خو ستا په څېر خوږې ،خوږې سندرې نه وايي څوک

ته چې زما تر مخ رقيب سره تېرېږې خاندې
گوره په سر د جنازې سندرې نه وايي څوک

دا نن سبا موسيقۍ ورکې شه مغزه خوږوي
اوس د کلاسيک دور پستې سندرې نه وايي څوک

د مينې تاو به ته تر کومې پټوې درمانه
هسې عبس تر نيمې شپې سندرې نه وايي څوک





## غزل

چې د ريبار په خوله د عيد مبارکي رالېږي
په ما مينه جينۍ ماته زندگي رالېږي

دا په سپېره خزان کې زيري د سپرلي رالېږي
په سره غرمه چې ځونډېداره دسمالگي رالېږي

هغه د مينې اظهار څه په ښه انداز کې کوي
په کاغذونو کې د زړونو رسامي رالېږي

د بام په سر باندې يې شنه کشمالي مه ورانوئ
هوا تري ماته خوشبوياني د لالي رالېږي

دغه جينۍ مې جوړې شر ته کېښنوي درمانه
په شنه سهار راپسې گوره مات بنگړي رالېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

ځار له ماشومتوبه ځومره ښه وو چې واړه وو
هېڅ له درده غمه خبر نه وو چې واړه وو

اوس نو په وريښمينو بالښتو راته خوب نه راځي
اخ اللّٰه په تيرو به اوده وو چې واړه وو

کلي کې به غم وو که ښادي وه بې پروا به وو
مونږ به پټ پټوني پسې مړه وو چې واړه وو

زه د اور لمبه ومه ته ځاله د مچيو وې
سم د شيطانانو له کاله وو چې واړه وو

اوس مو نو هغه ملا يو بل سره ليدی نشی
چاته چې له ټول جهان خواږه وو چې واړه وو

گوره او مړۍ به مو درمانه سهار وخوره
خدایج شته ټوله ورځ به پرې ماړه وو چې واړه وو





# غزل

مونږه ملامت نه وو که شوې مو پسې خولې اوبه
واه ددې جينۍ خو په مرۍ کې ښکاريدې اوبه

پام چې شرافت خو مې د ضعف ټکی ونه گڼې
غرونه به سوري کړي که ورمخه وکړي مړې اوبه

خدایج دې يې رښتيا نه کړي بېگاه مې داسې خوب ليده
يار دې په سفر روان وي ته پسې شيندې اوبه

تږی د چينې غاړې ته کېښناستم راياده شوې
خدایج منې کنه! که په مرۍ مې تېرېدې اوبه

ستا په جنتي لپه کې مورې بيا اوبه څښمه
داسې خوږې لگي لکه وي چې د مکې اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه! چې مینه نه کړې صفا ووایه چې ځم درنه
هسې نو اشنا راپسې څله خړوې اوبه

ښکلي به وي ډېر خو یاره ستا په څېر کیدی نه شي
چېرته د ډنډونو اوبه ، چېرته د چینې اوبه

پرېږده رقیبان خو له باران راوتي خوړونه دي
ته لکه په سره اوړي د یخ ګړي سړې اوبه

داسې ستا په سپین جبین د سپینو خولو ډنډ ولاړ
ته وا په راڼه لوښي کې ایښي دي رڼې اوبه

دا چې ته د دې دور له ښکلو نه وفا غواړې
دا به نو زړګیه ته له کاڼو رازېښې اوبه

ښکاري درمان ګله بیا د هجر تاو وهلی یې
څنګه په دې یخ ژمي کې یخې ، یخې څښې اوبه





## غزل

بیا د اوښکو او سلګیو جوړ محفل دی ورته ناست یم
نیمه شپه ده د ټکر په غبرګ غزل دی ورته ناست یم

نن مې کړی په یو ګل ګزار د ګل دی ، ورته ناست یم
اوس یې ګورم چې یې څه عکس العمل دی ورته ناست یم

چې خفه نه شي پښتون یم د زړه وینې ورکومه
دا ستا یاد مې بیا د زړه په کور متل دی ورته ناست یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکـر نـه کـړم چـې وعـده ورتـه وریـاده شي او راشي
خـو څـه ګـورو بـه پـه لـوی الله توکـل دی ورتـه ناسـت یـم

د هغـــې د خـــونړو ښــو لښـــکر تـــه مخـــامخ یـــم
ښـه پـوهېږم چـې راغلـی مـې اجـل دی ورتـه ناسـت یـم

مینـه غـواړم کـبر نـه کـړم چـې پـه چـا بانـدې یـې ګـوري
کـه تڼی دی کـه ګربز دی کـه منګل دی ورتـه ناسـت یـم*

د هغـــې د انتظـــار د زور بـــه څـــه وایـــم درمانـــه
د وجـود پـه هـر هډوکي مـې اور بـل دی ورتـه ناسـت یـم

* تڼي،ګربز او منګل د خوست دې دریو قومونو نومونه دي





## غزل

دا تـــه وې چـــې لـــه نـــازه غړېـــدې پـــه تـــرنم
مـــا وې کـــه لـــه چـــا اورمـــه ټپـــې پـــه تـــرنم

سـندرې خـو بـس هسـې هـم سـندرې وي کنـه
خـو تـه یـې چـې کـوې راتـه کیسـې پـه تـرنم

نشـه پـه سـاده پیـو کـې ورګـډه کـړې د بنـګ
ګـــل لښـــتې دا غړکـــه چـــې مـــړې پـــه تـــرنم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانانه بلبل غړیه راته وکړه څو ټپې
لږ خو مې رنګینې کړه شیبې په ترنم

ما وېل چې موسیقار دی غږوي چېرته سرګم
سرې شونډې دې له یخ نه رپیدې په ترنم

دا ستا په موجودیت کې مې وي ژوند داسې رنګین
رنګینې چې وي څنګ مشاعرې په ترنم

مړوند خو دې هېڅکله خالي مه شه له بنګړیو
همداسې چې راځې داسې چې ځې په ترنم





## غزل

یار مخامخ دی او ته ګونګ ولاړ یې
ته وا خوړلي د دي بنګ ولاړ یې

اوس نو د ټول کلي کیسه کې نه یم
ښکلیه چې ته زما تر څنګ ولاړ یې

د ښکلو منځ کې غنمرنګه اشنا
لکه ببرى لکه لونګ ولاړ یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رقیبه یار لکه د سولې سمبول
ته لکه جنګ هسې بدرنګ ولاړ یې

پښتونه لږ خو دې ځان وپېژنه
دا ته له چا سره کړې جنګ ولاړ یې

مشرـهله تا خو مې دا تمه نه وه
څه د بې ننګ سړي په ننګ ولاړ یې

درمانه څه خو شته خو نه یې وایې
دا چې وهلې دې دی رنګ ولاړ یې





# غزل

جانانه چې د مینې برنامه درسره نه وه
ژوندوی وې ، خو د ښه ژوند طریقه درسره نه وه

اشنا په ظاهري خبره دې تېروتم غلط شوم
((ته تش کاغذي ګل وې هېڅ وږمه درسره نه وه))

هوښیارې ځان د خلاص کړو رانه ، بړینګ په ژړا سر شوې
د نه راتلو چې بله بهانه درسره نه وه

زما په ژوند راوستی انقلاب دې جوړې هېر وو
روانه وې ، په سر سره لوپټه درسره نه وه

ما ګوره په نښتي جنګ کې هم د ژوند نارې کړم
دا مه وایه چې ښکلي مفکوره درسره نه وه

د زړه له درد مې څنګه وی خبر د زړه درمانه
زما په څېر د درد درنه رشته درسره نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

بې له تا خو زندګي وي داسې سخته
لکه اوړي کې مزل کړي څوک په دښته

ستا له زوره یار راتلی نه شي دیدن ته
خدای ته ګوره لږ خو ودرېږه اوربښته

زه د توري له ګزاره نه مړ کېږم
که مړ کېږم نو د مینې له کمښته





ستا مړوند باندې مې سر ایښی اوده یم
څه به وایم د وریښمو له بالښته

له منګول چې دساتلي مرغان درومي
په تا څه وکړم زما بخته کمبخته

یار ولاړ د رقیبانو په ټولي کې
زر په خاورو کې پراته دي بې ارزښته

په ماښام څنګه اوده شولې درمانه
د مینو خو ناستې وي تر ناوخته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا بیـا د کـوم میـئن دي ارمانونـه رنجـېږ ، رنجـېږ
پراتـه دي پـه ګـودر کـې ګلابونـه رنجـېږ ، رنجـېږ

څـو کـه زمـا او سـتا پـه مینـه ډېـر کالونـه تېـر دي
تـر اوسـه دې سـاتم د لاس خطونـه رنجـېږ ، رنجـېږ

هــر څــوک د مســافر لالي جیبونــو تــه ورګــوري
څوک نـه ګـوري ددې سرې لاسـونه رنجـېږ ، رنجـېږ





د مینـې پـه مجلـس کـې چـا د کرکـې کیسـې وکـړې
دا چــا مــو کــړل ورغــلي پرهرونــه رنجــېږ ، رنجــېږ

زړه مــورکی یــې تشــو تصــویرونو تــه ویــر کانــدي
پراتـه دي پـه تـابوت کـې اندامونـه رنجـېږ ، رنجـېږ

واه ! دا بـه د ښایســت نـو څـومره لـوړه مرتبـه وي
چې نور د ښایستونو یې کړل غرونه رنجېږ ، رنجېږ

تــه یــې چــې لا هغســې یــې تمــه د یــارۍ کــړې
هغـې دې کـړل درمانـه تصـویرونه رنجـېږ ، رنجـېږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

اوړی دی دښته ده تر لرې لرې سیوری نشته
خاونده کومې خوا ته وتښتمه لوری نشته

انسان وژنه که باداره تکړه توب وي دلته
په زغرده وایمه له مانه بل کمزوری نشته

دا چې تمامه ورځ په شا د پالش بکس ګرځوي
ددې غریب ماشوم په سر د بابا سیوری نشته

تا به اوس څنګه زه د مینې په ارزښت پوهوم
چې په مازغو کې دې اشنا د مینې توری نشته

نور انتظار یې بې مانا دی ځه چې ځو درمانه
رښا لریږي په اسمان کې په نوم سیوری نشته





# غزل

ته چې رقیب ته په مشکنو جوړوې هېندارې
دا مې په زړه کې په لوی لاس راماتوې هېندارې

چې مینه نه کوې نو ګرانې زړه مې مه خوږوه
د بام په سر راپسې څله پړکوې هېندارې

زه به اوس یاره تاته ستا د ښایست څه وایمه
مبالغه دې نه وي یاره شرموې هېندارې

نظر مې بربښي په ما ګرانې درکتی نه شمه
په ګلدوزي غاړه کې ستا وړې وړې هېندارې

که په تاوجنو شونډو ښکل شي خدایږو ویلي به شي
ستا اننګي داسې راښه لګه رښې هېندراې

درمانه نه یم ملامت چې ورکتی نه شمه
د جلوه ګر نظر له زور یې پټیدې هېندارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

څه د فکرونو په سکروټو کې یې زړه پرېوتی
دا سړی گوره چې یې سر په زنگانه پرېوتی

دغه سړی د یار د سترگو ذکر فکر کوي
ما وې ملا دی د تهجدو په لمانځه پرېوتی

چې د رندو په څېر تیندک په لاره خورمه ځمه
خوږمنو سترگو ته مې یاره ستا باڼه پرېوتی

دا څومره ښکلي سولییزه نظاره جوړه ده
دا سپین زړوکی د هغې په دیواله پرېوتی

دا سور گلاب په دې ریښې ، ریښې گریوان کې گوره
ته وا پاچا د ملنگانو په کاله پرېوتی

زه د مینې پیغلې ښه درته وښیمه
درمانه تل یې وي نغن په تناره پرېوتی





## غزل

غم دې وي راسره تل چې اوده کېږم
ترېنه خورم د خوب درمل چې اوده کېږم

ستا د یاد له میروږیو نه یرېږم
په ځان چوف کړمه غزل چې اوده کېږم

ته چې څنگ ته بږدې خنجر په جنگ مینځ یې
زه خو څنگ ته بږدمه گل چې اوده کېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږ سکون مې روح ته راشي چې تصوير دې
کړم په دواړه مخه ښکل چې اوده کېږم

ته ورځه د پاچا زويه ځه اوده شه
څوک به وساتي مورچل چې اوده کېږم؟

چې ماښام له مزدورۍ نه ستړی راشم
سر ته ويړه کړم څنګل چې اوده کېږم

د درمان په سر مې جنګ ته ملا تړلي
د بارودو په کمبل چې اوده کېږم





# غزل

تا به چې هر مازديګر ماته راويشتلې تيږې
د مينې زور وو چې په ګل به بدلېدلې تيږې

په سره غرمه دې سترګې تورې کړې خواري دې وکړه
وچو وښو کې دې صنمه ومړلې تيږې

جار د هغو خلکو ايمان ته سلامي پکار ده
چا چې له لوږې نه په نس پورې تړلې تيږې

زه وم چې تاته مې ټول عمر ګرځول ګلونه
ته وې چې ماته دې ټول عمر ګرځولې تيږې

خبر شوې نن هغې ته خپله خدایځ وريښه کړله
چا چې زما او ستا تر منځه ټکولې تيږې

درمانه څله يې په سرو سترګو کې سترګې ګنډې
درمانه څله سرو مچيو ته ور ولې تيږې

# غزل

تر خپلې وسې مې خواري او ښه محنت کولو
ته چې زما نه شوې زياتی زما قسمت کولو

دا چې په هر گام تا له مينې شکايت کولو
تا مينه نه کوله تا يې تش عادت کولو

دا علامه د قيامت ده که نوښت دی د وخت
نن چې ساقي د ملايانو امامت کولو

رقيب په گوښي ځان اشنا دومره غښتلی نه وو
دا چې برلاسی شو نو تا يې حمايت کولو

هغې سړي گوره اوس خوب د پاچاهی ليدلی
چا چې ټول عمر د سرونو تجارت کولو

درمانه ښه شوه چې په نيمه لار يې پرېښودلې
چې نفرت خپلو ته د غېر د محبت کولو





# غزل

دا مه وايه چې ته له مانه هېر يې محترمه
د زړه په هره پوله مې چاپېر يې محترمه

کيسه يې که رومان يې او که شعر يې محترمه
خوږه يې ، ته که لږ يې او که ډېر يې محترمه

منمه چې په زړه کې بلا ډېر ښکلي ساتمه
خو ته پکې د سوي لاس په څېر يې محترمه

ما مه پوښته ، چې څنگه يمه ، ښه يمه ، بد نه يم
ما پرېږده ، ياره ته وايه ، په خېر يې محترمه

که لاس واخلې درمانه په مرگي کې مې شک نشته
وجود ته مې د روح غونډې راتېر يې محترمه



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۱۴ کال د جون میاشت کله چې په شمالي وزیرستان کې د پاکستاني پوځ عملیات روان وو

## وزیرستان!

د وخت د ستر غلیم سره په شر وزیرستان دی
د هر یوه خبر د سر خبر وزیرستان دی

خبر اوسه د ډېرو زورورو ښکر یې مات دي
دا هغه توریالی دی هغه نر وزیرستان دی

خیبر دی که کابل که کندهار دی مېړني دي
خو ومنه د ټولو سر لښکر وزیرستان دی

په چا باندې به گران وي او یا نه وي خو درمانه
زما د سترگو تور او د زړه سر وزیرستان دی





د کرکټ تکړه لوبغاړي شاهد مندوزي ته!

## شاهده!

ټول عمر په سیالانو بریالی اوسې شاهده
د ژوند په هر میدان کې ننگیالی اوسې شاهده

په منډو کې تر هر چا گړندی اوسې شاهده
همداسې د شپږیزو مېړنی اوسې شاهده

ته تل د مېړنو د سر سړی اوسې شاهده
همداسې زوړور او توریالی اوسې شاهده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه سـترگو د رقیـب کـې تـل ازغـی اوسـې شـاهده
اتـل اوسـې تکـړه اوسـې زمـری اوسـې شـاهده

همداسې مې د زړه د کـور سپرلی اوسې شاهده
نـرگس اوسـې گـلاب اوسـې ببـری اوسـې شـاهده

زمـا د زړه پـه گوتـه کـې غمـی اوسـې شـاهده
نـوک دې راتـه خـوږ مـه شـه ژونـدی اوسـې شـاهده

۲۰۱۳ نومبر میاشت





# غزل

دا چـې ویـل دې چـې پـه تـا مـې شـه یـاري زهـر
همـدې کیسـې خـو دې پـه مـا کـړه زنـدگي زهـر

جانــان زمــا دی، کــړي خنــدا لــه رقیبــانو سره
دا مـې پـه لـوی لاس پـه وجـود کـې خـوروي زهـر

داسې چې سپکې سپورې وایي خو په نرمه لهجه
یـار تـه مـې گـورئ پـه خـوږو کـې گـډوي زهـر

دا مــازدیگر او د جانــان د تللــو ضــد تــه گــورئ
دا مــې د زړه پــه هــره پولــه کــې پــاشي زهــر

دغــه سـړی گــوره نــور زغــم د بېلتانــه نــه لــري
دغـه سـړی گـوره چـې لېـې ، لېـې څښـي زهـر

وخـت بـه تـر څـو پـورې درمانـه دغـه جـبر کـوي
وخــت بــه تــر څــو پــورې درمانــه راکــوي زهــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا سر مې مات ښه دی خو نه ستا له څنګل نه لرې
وخت به تر څو ساتي مونږ داسې د يو بل نه لرې

ګل رنګې مه کړه اننګي په څادر مه پټوه
ظلم دی مه ساته ګلونه د بلبل نه لرې

د انتظار مزل به ووايه تر څو کومه
زه به تر څو وم په منزل کې د منزل نه لرې





اې د ورېښمينو بالښتونو په خوبونو روږديه
د ستا په وس کې نه ده اوسه له مورچل نه لرې

تش په نېشه کې يې تېشه وهي نور څه نه کوي
دا ناصح بوځئ د رندانو له محفل نه لرې

چې رانجه لرې کړې نو حسن دې پيکه شي داسې
لکه مطلع چې کړي څوک ياره له غزل نه لرې

د زړه درمانه دا ښايسته نظاره ورانه نه کړې
پام دا ګلاب خو بيخي نه کړې له اوربل نه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

د زلفـو چـتر او سـتا سـپین ، سـپین اننگـي اوبرنگـې
تـه وا سـاړه سـیوري تـه ایښـي دي منگـي اوبرنگـې

دا ستا په زړه کې ښخ دي خپل د سرو بنگړي اوبرنگې
خـو دربښـکاره مـې نـه شـوه چېرتـه مجبـوري اوبرنگـې

ډېره مې مخ ته ، مخ ته مه کېږه چې مرم لـه تنـدې
یـوه مـې روژه پـه خولـه ده، بلـه گرمـي اوبرنگـې

لکـه د یـخ اوبـو چینـه چـې سـپینه سـپینه اوړې
دا جـل وهلـی زړه بـه خـود درپسـې مـري اوبرنگـې

تـا کـه د مینـې پـه نـوم تشـې سـترگې وزمبلـې
زه بـه در اُف کړمـه دا ټولـه زنـدگي اوبرنگـې

کـه بـې لـه خدایـه یـې بـل چاتـه هـم جـواز درلـودی
درمـان بـه کړلـی سـتا د سـترگو بنـدگي اوبرنگـې





# غزل

مینـه کـوه کـه دې د ژونـد ابادولـه څمکـه
بـې مینـې ژونـد لکـه اشـنا چرتـه شـډله څمکـه

سـخته گرمـي بـه وه او لمـر بـه سـوځوله څمکـه
غریـب دهقـان بـه پـه بېلونـو اړولـه څمکـه

توکل په خدایج په نا لیدلي مخ مین شوم اشنا
د بارانـه پـه نیـت مـې یـاره وکرلـه څمکـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې تر څو د غلامۍ سیورې په سر منمه
نو تر هغې به زه پردی ومه په خپله ځمکه

هغه شیبې به مې په ژوند کې چرته هېرې نه شي
ما به ګیلې کولې تا به ګروله ځمکه

چې له رقیب سره به یو ځای له ما تېر شو اشنا
زه به ولاړ وم خو له پښو مې تښتیدله ځمکه

داسې هم نه ده چې زه خپله لاره نه لرمه
منمه یو نیم غزل لیکم په بدله ځمکه

دا لر او بر پکې چا راوستل له کومه راغلل
ملګرو یوه ده له اټک نه تر کابله ځمکه

خلک اسمان ته لاړل ته په ځمکه پاتې ښه یې
کم عقله تا چې د غوايي په ښکر منله ځمکه

درمانه اوس به یې ساتمه له بدرنګو خلکو
زه چې ماشوم وم له مرغانو مې ساتله ځمکه





## غزل

ماته راګران دي اشنا ماته دي سپېڅلي خلي
تا چې په تکه سپینه خوله کې دي وهلي خلي

چې مې نظر درپسې نښلي ملامت نه یمه
زما اشنا په بخملینو جامو نښلي خلي

هغې ته ګوره په زړه غوړ لکه نښتر ولاړ دی
زه لکه وچ وابښه یم زه لکه منښلي خلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاونده دا د غریبۍ تصویر یې نشم لیدی
یوه سږي په گرېوانه کې دي منډلي خلي

د وخت بادونه مې چې کومې خوا ته وړي ورسره
زما ژوندون لکه له ځانگو غورځیدلي خلي

دا لېونتوب که فلسفه ده زه پرې نه پوهېږم
یوې جینۍ راته په خط کې رالیږلي خلي

لکه د سرو زرو په تار کې وي غمي درمانه
څه په هنر د په لفظونو کې پیيلي خلي





## غزل

چې مې نظر ستا د نظر سره په شر نه وو
مازیگر وو خو اشنا رنگ د مازیگر نه وو

چې دا د هجر لوند څادر مې ورته ویږ وی اشنا
په انتظار ومه خو ستا د وصال لمر نه وو

بېگاه د پورې بیابان کې وو لوی ظلم شوی
یو مړی پروت وو خو په تن پورې یې سر نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره خبره ده سړيه ملامت به وې ته
په دومره چم کې دې يو کس چې هم نظر نه وو

زما په ماتي کې لاليه دا ستا لاس وو ګني
دغه رقيب خو په يوائې دومره نر نه وو

دغه غزل دي چې يې ډېر خلک ميئن کړل په ما
ګني ورکړي خو مې چاته سپين او زر نه وو

د زړه درمانه چې په تا مې سترګې نه شوې خوږې
اختر به وو په چا به وو په ما اختر نه وو





## غزل

هره ورځ وايم چې تړم به د زړه ور درمانه
څه وکړم نه کېږي در اوړي مې نظر درمانه

وياړمه خبر دی که ورپاتې مې شو سر درمانه
خو په ژوندوني مې ورپرېښود سنګر درمانه

د پښتنو په سيمه ژوند د سر خطر درمانه
يا به جاسوس يادېږي يا به ترهګر درمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــه بــه تــر ځــو وې پــه نــه ټکــي مــرور درمانــه
پــه رقيبـــانو بــه تــر کــومې وي اخـــتر درمانــه

ستا د بڼـو سره پـه جنـګ دی زړه تـه خپـر غواړمـه
يـو خـوا يـواځې سـړی بـل خـوا لښـکر درمانـه

زه بـه تـا وژنـم او تـه مـا اخپـر تـر کومـه پـورې
راځــه چــې پرېـږدو دا ورانــی او دغــه شر درمانــه

پـه سـفر ځـې لـه مـا نظـر غـواړې زه دا وايمـه
کـاڼي دې هـم نـه شي لـه کـلي مسـافر درمانـه





## غزل

خـــبر يـــې بـــې لـــه تـــا ځنګـــه وختونـــه تېرومـــه
اختـــه يمـــه مرګـــي تـــه شـــپې او ورځـــې لنډومـــه

هغـــه پـــه لار روانـــه زه شـــپېلک پســـې وهمـــه
لګيـــا يمـــه د سرو مچيـــو ځـــالې پوکومـــه

تـــر هغـــې بـــه پـــه زړه د درد تنهـــاکې ګرځومـــه
تـــر څـــو چـــې د حســـينو سره ګـــوتې ماتومـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا شل او زما نولس خو ته مه مرورېږه
سل واري ملامت یمه ناغه توبه منمه

جانانه مجبوري ده شپه تیاره ده هم ساړه دی
غربت دی تیلی نشته خو بس کاڼي به مږمه

سبا خو په سبا کې دی سبا به څه پېښېږي
درځار شم له ماښامه راته مه وایه چې ځمه

یو ښکلي ته غږېږمه د عشق په ارزښتونو
درمانه په پوکیو مړې سکروټې بلومه





## غزل

کلونه پس مرور یار سره غږېږمه زه
له خوشحالۍ نه په جامو کې نه ځایېږمه زه

په دې هم شکر دی په دې هم خوشالېږمه زه
په یو اختر او بل اختر چې وریادېږمه زه

کله نه کله خو دیدن راکوه شین به ومه
د للمې گل یم بې بارانه خو وچېږمه زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه بـه تـر کـومې د پښـتون د وجـود وینـه ومـه
دا بــې ارزښــته بــه تــر څــو پــورې تویېږمــه زه

حـالاتو داسـې د یـو بـل سره دښـمن کړلـو چـې
اوس چـې روان ومـه لـه خپـل سـیوري ډارېږمـه زه

هـره ورځ مرمـه خـو مـې چېـرې هـم دا سـوچ ونکـړ
د چــــا لپــــاره او دا ولـــــې وژل کېږمـــــه زه

تـه بـه تـر کـومې بـې غـوري کـوې د زړه درمانـه
د زړه لـــه درده بـــه تـــر څـــو پـــورې کړېږمـــه زه





# غزل

دا زه چـې راغلـم سـتا وخواتـه بیـا عـالي جنابـه
تنهـا زنـدګي نـه کېـده لـه مـا عـالي جنابـه

زه تـېرى د سره اوړي تـه د یـخ ګـړي اوبـه یـې
ژونـدون خـورا مشـکل دى بـې لتـا عـالي جنابـه

یاران مې راته وایي څه ښایسته غزل دې لیک دى
زه ژباړمـه دسـتا د مـخ ښـکلا عـالي جنابـه

دا سـتا د هـر یـو امـر تابعـدار یمـه پـه سـترګو
زه یـم لکـه سرتېـرى تـه پاچـا عـالي جنابـه

لمانځـه د استسـقا تـه ټـول شریـک سره روان یـو
دا ټـول کلـى بـاران غـواړي زه تـا عـالي جنابـه

د خـوږ زړګـي درمـان مـې دومـره ګـران نـدى لالیـه
پکـار ده ورتـه سـتا د خـولې خنـدا عـالي جنابـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا چې مې لیکلی ستا په سترګو او رخسار دی
ټوله شاعرۍ کې مې همدا غزل شهکار دی

لا دې په جبین کې د رنګونو بیروبار دی
ځکه دې هر څوک د سر په بیه خریدار دی

زه مرګ ته خوشحاله یم چې دا امر د یار دی
وژنه مې جلاده بیا دې ولې راته وار دی





دا چې یې نیمګړی د ژوند هر یو کاروبار دی
ښکاري دې سړي ته مور او پلار کړی ازار دی

تاته ټوله ورځ په دغه لاره انتظار دی
دا مې زندګي ده یاره دغه مې روزګار دی

تاو دې له جبینه د ولولو زلفو تار دی
ته وا چې د سرو زرو له لعله تاو ښامار دی

اې د زړه درمانه ستا تهمت ورباندې بار دی
داسې چې خندان ولاړ درمان په سر د دار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

کړمه شوګیرې ، صنمه سترګې مې دروختې
خوب مې نشته اې ، صنمه سترګې مې دروختې

کله به راځې ، صنمه سترګې مې دروختې
ګرځم بې نشې ، صنمه سترګې مې دروختې

کړې دې اشارې ، صنمه سترګې مې دروختې
څه دې راته وې ، صنمه سترګې مې دروختې





سترګې دې راواړوه تیاره مې له زړه لرې کړه
بلې کړه ډیوې ، صنمه سترګې مې دروختې

زه د بېلتانه تندې وهلی یمه تږی یم
ته لکه شیدې ، صنمه سترګې مې دروختې

زر شه له جبین نه دې د زلفو نقاب واړوه
پرېږده بهانې ، صنمه سترګې مې دروختې

وخت وشو درمانه چې د زړه په رنځ اخته یمه
مرمه درپسې ، صنمه سترګې مې دروختې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

باور دې وشه چې مې هېڅ نه پېژنده موسيقي
خو دې نرۍ نرۍ موسکا دې کړه را زده موسيقي

تا چې په ما د کاڼي وار وکړو قربان دې شمه
د بنګړو جڼ نه دې راووته خوږه موسيقي

ته چې روانه وې پاولیو دې شرنګا کوله
په ټوله لار درپسې ګرانې غږېده موسيقي





لېونۍ تا چې په زړو جامو کې وکړو سينګار
ته وا يو ځای کړه موسيقار نوي زړه موسيقي

په ناز خندا کړه او خبرې غلې ، غلې کوه
غواړم چې واورم د کلاسيک دور پسته موسيقي

په نيمه شپه دې کريغې وکړې زړه مې وښويېده
څنګه بې وخته دې شروع کړله ځيږه موسيقي

چې مستانه ژڼو اتڼ ته څڼې واچولې
درمانه خود به له مستۍ نه ګډېده موسيقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

لېونی شوی یې چې غواړې له هغې مچکې
زړه ! څنګه واخلمه له تکې سرې لمبې مچکې

جوړې په خپل ښایست میئنه شوې که څه چل وشو
چې هر سهار اخلې جینۍ له آیئنې مچکې

نازکې شونډې دې له یخ نه جنګېدلې سره
ته وا ګلپاڼو له یوې بلې اخېستې مچکې

چې هر سهار راوځم مور مې پر تندي ښکلوم
زه هر سهار اخلم یارانو له کعبې مچکې

چې زړه دې نه دی زور مې نشته نو دا ژاړې ولې
کفر خو نه دی که مې یاره وغوښتې مچکې

د زړه درمانه زه به نوم د پیالې نه اخلمه
خو ته وعده راکړه چې ته به راکوې مچکې





# غزل

دا چې اوس په لاره پاڼې پاڼې ټولوم ګلاب
ګرم یمه درمانه چې بې قدرو ته لېږم ګلاب

جار دې له رخساره د ښو سیوري ته ژوند کوي
ته وا چې د غنو په شپاله کې دی مبهم ګلاب

خیال د انسانیت ساتم ګني نیمګړی نه یمه
تیږې ګرځوه راپسې زه درته ساتم ګلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د یاد لـه زوره بـه اوس خـاورې زدکـړې وکړمـه
زه چې د مکتـب پـه هـر کتـاب کـې رسـموم گـلاب

دا مــې د ریبــار سره دا ســتا د جبــین شــفر دی
دا چــې پــه محفـل کـې کلـه ،کلـه یـادوم گـلاب

تورې ، تورې سترگې سور رخسار او دا نرۍ ځواني
تـه وا پـه یـوه ځانگـه گورگـورې دي او هـم گـلاب

څــه د بــې وفــا ســړي نــه طمــع د وفــا لــرم
گـرم یمـه درمانــه پــه ســپېره دښــته کـرم گـلاب





# غزل

تـه ومنـه پـه خدایج لـه تنـدې مرمـه زړه مې وچ دی
بــاران د وصــال راوالــه صــنمه زړه مــې وچ دی

تــه چرتــه یــې د سرو گلـو موسـمه زړه مـې وچ دی
نگـاره سـنځل بویـه گـل شڼشـمه زړه مـې وچ دی

تــه راشــه مـا لــه ځانــه سره بېـل جهـان تـه بوځــه
اې سـازه ، اې سروده ،اې سرگمـه زړه مـې وچ دی

وخـت وشـو د هجـران د کـوټې ور راپسـې بنـد دی
محروم یمه دا څه وخت له شبنمه زړه مې وچ دی

چـې لاړې پسـې لاړې بیـا دې سر راښـکاره نـه کـړو
اشــنا د قــدم خــاوره دې زیبښــمه زړه مــې وچ دی

پـه هره یوه جامه کې دې چې زړه وي خو ته راشه
اې درده ،اې درمانــه ،اې مرهمــه زړه مــې وچ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

لـــه برنـــدو ســـترگو دې چـــاپېره نېـــغ بانـــه ولاړ دي
تـــه وا چـــې کښـــلي تـــورې جنـــګ تـــه پښـــتانه ولاړ دي

اوس مې زړه مات دی اوس د سرو ګلو موسم نه يمه
اوس مـــې د زړه پـــه باغيچـــه کـــې وچ واښـــه ولاړ دي

په يوه ګلدان کې ګلاب شين دی هم نرګس ولاړ دی
ته وا دوه ښکلي دي سيالۍ ته خوله په خوله ولاړ دي

د رقيبانو په ټولي کې څو حسين وګړي
اصيل ويلني دي بې قدره په وياله ولاړ دي

د ژوندانه په ړنګه ژۍ کې ارمانونه زما
لکه په غاړه د سړک باندې ړانده ولاړ دي

درمانه نه کيږي ديدن ته سترګې مه غړوه
څلور طرف ته مې عسکر د بېلتانه ولاړ دي





## غزل

چې مې په سترګو کې وې هغه کيسې تا ونه وې
د زړه خــــبرې درتـــــه مــــا هـــــم بـــــرلا ونـــــه وې

تـا کـه پـه واړه ژونـد کـې يـو ځلـې رېښـتيا ونـه وې
مـا درتـه بيـا هـم دروغجـن او بـې وفـا ونـه وې

ګنـــاه دې دا نـــه ده نګـــاره چـــې ګنـــاه دې وکـــړه
ګنـــاه دې دا ده چـــې ګنـــاه تـــه دې ګنـــاه ونـــه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سپین کاغذ مې ګلاب رسم کړو او لاړمه ترې
نور مې نړۍ ته یاره هیڅ ستا پر ښکلا ونه وې

مـــا د وختونـــو د هـــر جـــبر مقابلـــه وکړلـــه
ځان مې تالا کړو خو تیارې ته مې رڼا ونه وې

زه یربـدم مـا ویـل حـالات دې رانـه ونـه تـروړي
لـه دغـې یـرې مـې اشـنا درتـه اشـنا ونـه وې

مـا ویـل درمانـه بیـا بـه خلـک تاتـه ګوتـه نیسيـ
ځکـه مـې هیچاتـه د خپـل زړګـي د غـلا ونـه وې





## غزل

خـولګۍ یـې ګـل بانـه چـاړې ،تصـویر تـه ګوره کنـه
تـه پـه غـزل کـې مـې اوس دې تصـویر تـه ګوره کنـه

چـې مـا پربـږدې تـه رانـه ځـې تصـویر تـه ګوره کنـه
پـه رڼـا ورځ د تـورې شـپې تصـویر تـه ګـوره کنـه

چـې بـې لتـا مـې د ژونـد حـال غـواړې مغـرور لالیـه
چېرتـه د مـاتې اینـې ،تصـویر تـه ګـوره کنـه

حـالاتو سـم خنـدا تـه سـم کـړم ګنـې داسـې نـه وم
لـږ مـې د تېـرې زمـانې ،تصـویر تـه ګـوره کنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به نو تاته پر گلپاڼو شبنم څه ښيمه
په خپل جبين دې د خولې، تصوير ته گوره کنه

څه به د خپلې لېونۍ مينې ثبوت درکوم
بس د پتنگ او د ډېوې، تصوير ته گوره کنه

دا سره غرمه د يار راتگ زړگيه څه ووايم
په وچ خزان کې د مېوې، تصوير ته گوره کنه

د يوه زيارت په جنډې تاؤ دا څو کلن تارونه
دغه دی زما د يارانې، تصوير ته گوره کنه

مابه چې هر ځلې غوښتنه د ديدن کوله
تا به په نرمه لهجه وې، تصوير ته گوره کنه

ما درته وې يارانه سخته وي تا نه منله
درمانه اوس تر نيمې شپې، تصوير ته گوره کنه





# غزل

اوبه روانې دي روان پکې اسمان ښکاري
په دې وړوکي شان لښتي کې ټول جهان ښکاري

په کومه ورځ چې دې خورو زلفو ته وگورمه
بيا راته ټوله شپه په خوب کې ښاماران ښکاري

مينې تر دې حده اشنا ښکلا پرست کړمه چې
اوس نو هر ښکلی راته ځان ښکاري جانان ښکاري

چې نفرت خپلې ښارېې ته ورشيندي محبت
دغه روانه ډله ماته شاعران ښکاري

په سپين جبين دې سره خاپونه ياره څه يې کوې
کيسې يې مه کوه غمې د سليمان ښکاري

اوس د ستا خوښه ده چې هر يو دې لوريږي پر ما
ښکليه په سترگو کې دې درد ښکاري درمان ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزل

په واړه کلي کې نارې د بېلتانه غږېدې
څه بدې ورځې وې چې ته راسره نه غږېدې

عفوه له خدايه ما وېل بيا به د زر ونه وينم
ما چوپ کولې چې تر منځ د آذانه غږېدې

ملامت نه وم چې اشنا په مطلب نه رسېدم
په غږېدلو غږېدې، خو زړه نازړه غږېدې

جانانه پرېږده چې ښه غټه تيږه واړومه
څنگه دې زړه وکړو قربان څنگه راوغږېدې

ځان دې پرې گونگ کړلو درمانه خو په لار دې نکړو
څه يو بې دينه ته د مينې په لمانځه غږېدې





# دوه بيتونه

رنگ به مې خود لکه سکاره درپسې تور اووړي
دا څو کلونه مسلسل د هجر لمر ته ناست يم.
گوندې که زړه يې چرته نرم شې او راکړي ديدن
زه په دې طمعه د اشنا تړلې ور ته ناست يم

..................................

# څلور بيتونه

خاونده د يو چا د زړه ارمان دې ولې ومري
ياري دې ولې پاتې شي جانان دې ولې ومري

هغه د خدای ج بنده دی او دا هم خدای ج پيدا کړی
هندو دې ولې مړ شي مسلمان دې ولې ومري

تا واړه عمر دغه خلک جنگ ته هڅولي
خو زه وايمه باداره چې انسان دې ولې ومري

رقيب ورته زما د مرگې ووې نو يې ووې
ته دې هم ژوندی وې خو درمان دې ولې ومري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه بيتونه

دا نن چې يې وو څنګه بيا رقيب تر لاس نيولی
بېګاه خو مې پوی کړی وو جانان ټکي په ټکي

منمه ژوند مې سخت شو خو دا يوه ګټه دې راکړه
غربته رامالوم دې کړل ياران ټکي په ټکي

..................................

## دوه بيتونه

ته يې څه پروا لرې اشنا مزې دې وکړې
درد د بېلتانه د دی په ما مزې دې وکړې

زه لکه سرتيری ستا د هر امر تابع يم
ته لکه مغرور غونډې پاچا مزې دې وکړې





## درې بيتونه

بس خدای[ج] به وي چې نور په جنګ ماړه وي پښتانه
يو بل ته به تر څو غوښه چاړه وي پښتانه

څو به بې تپوسه بې پرسانه وژل کېږي
تر څو به د مرګ سيوري ته پراته وي پښتانه

ملګري د ملا دي که ساتونکي د پاچا
عجبه ده له دواړو خواوو مړه وي پښتانه

..............................................

## دوه بيتونه

چې مې د سوي زړه په حال باندې خبر نه شوې
سبا دې څه کړمه چې نن مې په «ښمر نه شوې

د بېغورۍ خو هم څه حد وي صدقه دې شمه
په ګردي کال کې مې لالیه په نظر نه شوې

»پکار نشوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه بيتونه

در جار شمه قابو کړه احساسات ، خدای ج مهربان دی
که ژوند وو بيا به وشي ملاقات ، خدای ج مهربان دی

د ياد په غونډۍ ناست يم څه زيړی مازيګری دی
بادونه به دې راوړي مالومات ، خدای ج مهربان دی
.........................................

## دری بيتونه

زه چې اشنا په محبت او په ياری پوی شوم
ايله بيله خو اوس په خوند د زندګۍ پوی شوم

د تندي کرښو دې د زړه خبره ټوله وکړه
د څه ويلو حاجت نشته بس جينۍ پوی شوم

ما خو اشنا مسافري د ګپ کيسه ګڼله
خو هله پوی شوم چې په زور د جدايۍ پوی شوم





## دوه بيتونه

دا ته چې داسې زړه نا زړه راسره مينه کوې
له دې به ښه وي چې هېڅ نه راسره مينه کوې

په اعتبار نه يې چې دې هر کله هم پرېښودمه
ګرانې په څېر د ژوندانه راسره مينه کوې

## دوه بيتونه

ته پرې خپه يې چې له سترګو دې باڼه وتي دي
زه پرې خوشال يم پورې ورې مې له زړه وتي دي

ته د الفت په باب کيسې کړې په نفرت مينه
څه معجزه ده په وچ کاڼي کې اوبه وتي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه دې غمونــو داســې کـړم لکــه وراســته زړوکــي
دا ســتا وجــود لکــه وربښــم لکــه پاســته زړوکــي

له باران وروسته په اسمان کې شنه او سره زرغونه
بیاېې رایاد کړل د یوې دنګې شنه او سره زړوکي

جوړ یارانې ته دې زړه شوی دی که څه چل شوی
چــې دې راځوړنــد دي جینــۍ پـه دیوالـه زړوکـي





که خدایج غوښتل سږنی کال به ښه اباد وي جینۍ
خـوب مـې لیـده چـې د لانـده کـړل بارانـه زړوکـي

رقیــب چــې ســتا د نــامې ذکــر وکــړي وبــورېږم
لکه په ژمي چې څوک پټ شي په لانده زړوکي

غریبــه ده خــو پــه پــرده دومــره میئنــه ده چــې
د کـــور پـــه وره یـــې ځـــړولي دي زاړه زړوکـــي

پــه طبیبــانو یــې درمــان درمانــه شــونی نــه دی
د زړه لــه ټــپ مــې تاوومــه د چــا شــنه زړوکــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د خوست ادبي بهير له ملګرو څخه زیاته مننه کوم چې تل یې داد راکړی او د دې کتاب د چاپ چارې یې پر غاړه واخېستې .

د ګرانو مشرانو عبدالله صادق او ساده حیدرخېل څخه هم زیاته مننه کوم چې د ډېرو مصروفیتونو سربېره یې د ((درمان)) لپاره لیکنې وکړې، کور یې ودان غله یې ډېره .
د ځوان ملګري جاوید شاه مندوزي او د یوه نالیدلي ملګري چې ځان راته درمان ځدراڼ معرفي کوي هم ،زیاته مننه کوم چې د کتاب د چاپ لپاره یې تر خپلې وسې مالي کومک راسره کړی.
د تکړه ډیزاینر وحید کوچي څخه هم زیاته مننه کوم چې د دې کتاب پوښتۍ پر ډیزاین یې خپل قیمتي وخت ولوراوه .
د دانش خپرندویې ټولنې له مشر تابه څخه هم زیاته مننه کوم چې په داسې یو هېواد کې چې په زیات شمېر کې بارود او اصلحه د خلکو د وژلو لپاره راوړل کیږي ،دوی یواځې د فرهنګ د غوړېدلو او د کتابونو د چاپ لپاره یې لېڅې رانغښتې دي .

په مینه

قدرت الله درمان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**